بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمحاکمو لپاره د جزائی اجراآتو مؤقت قانون

**رسمي جريده ګڼه (۸۲۰)**
**نېټه ۱۳۸۲/۱۲/۶ هـ. ش**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خواننده گرامی!**

افتخار داریم که بعد از نشر"مجموعه قوانین افغانستان" با شیوۀ تنظیم موضوعی، اکنون به‌خاطر سهولت بیشتر در دسترسی شما به قوانین مورد نیاز، سلسلۀ دیگری از قوانین نافذۀ کشور را با قطع کوچک جیبی در اختیار شما قرار می دهیم.

**څارنپوه حبیب الله "غالب"**

**وزیر عدلیه**

**نام:** قانون اجراآت جزایی مؤقت برای محاکم
**ناشر:** وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان
**تهیه و ترتیب:** ریاست نشرات
**مدیر پروژه:** قانونمل محمد رحیم "دقیق" سرپرست ریاست نشرات
**تدارکات و اداری:** سید محمد هاشمی رئیس امور مالی واداری و احمد خالد عزیزی معاون واحد پروژه بانک جهانی در وزارت عدلیه
**طراح جلد وصفحه‌آرا:** امان الله صداقت(غیبی)، عباس رسولی و حسین امینی
**مصححین:** نورعلم خان، حلیم سروش، محمد رفیع عمری و احسان الله نیکزاد
**مشاورین:** اسماعیل حکیمی و محمد یما قسمیار
**تاریخ نشر:** ۱۳۹۰
**تیراژ:** ۸۰۰۰
**چاپ:** اول (قطع جیبی)
**قیمت:** ۳۰ افغانی
**مطبعه:** مطبعه طباعتی وصنعتی احمد
**تلفن ریاست نشرات:** ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷
**ویب سایت:** www.moj.gov.af

**کلیه حقوق چاپ برای وزارت عدلیه محفوظ است.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو فهرست

## دمحاکمو لپاره د جزائی اجراآتو مؤقت قانون

لومړی فصل: **عمومی حکمونه**............................................ ۱٦
د تطبیق وړ قواعد............................................ ۱٦
د اجرایی اقداماتو ثبتول............................................ ۱٦
موده............................................ ۱۷
برائت الذمه............................................ ۱۸
مظنون او تورن............................................ ۱۸
د مؤقتی نیونی موده............................................ ۱۹
د سندونو او دلایلو قانونیت............................................ ۱۹
وروستنۍ فیصله............................................ ۲۰
تزویر............................................ ۲۰
د خارنوال امتناع............................................ ۲۱
د قاضی امتناع............................................ ۲۲
د قضائی واک سلبول............................................ ۲۳
د مشهود جرم تعریف............................................ ۲۳
د قضیو بیلول او یو ځای کول............................................ ۲٤
د جزائی اجراآتو ابطال او دهغه عواقب............................................ ۲٤
د اجراآتو بی اعتباره کېدل او د هغو عواقب............................................ ۲۵
د خبرتیا لپاره عمومی مقررات............................................ ۲۵
**دوه یم فصل**: **مظنون او تورن ته عمومی حکمونه**............................................ ۲٦
مدافع وکیل............................................ ۲٦
حقوقی مرسته............................................ ۲٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړونکی (ترجمان) ........................................................ ۲۷
**درېیم فصل: د جرمونو راپور او د څارنوال نقش**.............. ۲۷
د جرمونو راپور ................................................................ ۲۷
د جزائی دعوی تحریک................................................. ۲۸
تحقیقات ........................................................................ ۲۸
د تحقیق احاله................................................................ ۲۹
**څلورم فصل: د محکمو واک**.......................................... ۲۹
د جرمونو د غور کولو واک............................................ ۲۹
حوزوی واک ................................................................. ۲۹
د واک تنازع ................................................................... ۳۰
**پنځم فصل: عـدلی پولیس او د هغـو دندې او واکونه**........... ۳۱
د عدلی پولیسو کټګوری .............................................. ۳۱
د عدلی پولیسو نقش ..................................................... ۳۱
د عدلی پولیسو په واسطه نیول....................................... ۳۱
د عدلی پولیسو په واسطه استنطاق ................................ ۳۲
دقضائی ضبط د مامور عاجل اجراآت............................... ۳۲
**شپږم فصل: د څارنوال پواسطه تحقیقات**....................... ۳۳
د پولیسو د تصمیمونو تأییدول: ..................................... ۳۳
له نیول شوی شخص څخه استنطاق:................................. ۳۳
دابتدائیه څارنوال پواسطه نیول او دشیانو ضبطول.............. ۳۴
د نیولو په هکله د دعوی د اقامه کولو شرایط ..................... ۳۴
د دلایلو او شواهدو راټولول........................................... ۳۴
د مدافع وکیل حضور ...................................................... ۳۵
د تحقیقاتو پایله ............................................................. ۳۶
**اووم فصل: د تحقیقاتو په وخت کې ابلاغ او استازیتوب**............ ۳۷
مظنون ته ابلاغ ................................................................ ۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

غائب مظنون یا دهغه مدافع وکیل ته ابلاغیه..........................۳۷
**اتم فصل: محاکمه**.............................................................۳۸
د محاکمې پیل.....................................................................۳۸
د تحقیق قرار ته د تورن لاس رسېدل.........................................۳۸
په عقلی اختلال اخته تورن ...................................................۳۸
په محکمه کې د تورن د حضور مکلفیت ....................................۳۹
د ورک شوي (مفقود) تورن غیابی محاکمه....................................۳۹
د جلب شوي غائب تورن محاکمه ...........................................۴۰
د محاکمې بهیر......................................................................۴۰
د شاهدانو او اهل خبره حضور ..............................................۴۰
قسم ...................................................................................۴۰
د شاهدانو او اهل خبره منل...................................................۴۱
د قضایی جلسې نظم..............................................................۴۱
د قضائی غور کولو ډول...........................................................۴۲
له شاهدی، څخه معافیت او ډېره کول.........................................۴۳
د تحقیق په اجراآتو کې د دلایلو ارزښت......................................۴۴
متعدد جرمونه او شرایط یې.....................................................۴۴
له جرمی وصف څخه مختلف تعریف .........................................۴۴
د محاکمې پایله.....................................................................۴۵
د محکمې فیصله ..................................................................۴۵
په فیصله کې د نیونې امر .......................................................۴۶
د فیصلې مندرجات ...............................................................۴۶
د اجراآتو د لګښتونو ورکړه.......................................................۴۶
**نهم فصل: د مرافعه غوښتنې اجراآت**.......................................۴۷
د ابتدائیه محکمې د فیصلې پر خلاف د مرافعه طلبی، غوښتنه ۴۷
د غایب تورن په هکله د اجراآتو او مرافعه غوښتنې درول (توقف)۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرافعه غوښتنې ډول........................................................ ٤٨
د مرافعه غوښتنې د غوښتنلیک محتوی........................................ ٤٩
د مرافعه غوښتنې مقدماتی اجراآت.......................................... ٤٩
د مرافعه محکمې واک............................................................ ٥٠
د مرافعه طلبۍ په غوښتنلیک غور............................................ ٥١
د مرافعه محکمې فیصله:......................................................... ٥١
**لسم فصل: دسترې محکمې په وړاندې پر حکم باندې اعتراض**..... ٥٢
د مرافعه محکمې په خلاف اعتراض............................................ ٥٢
د اعتراض میعاد.................................................................. ٥٢
د اعتراض ډول (طرز)............................................................ ٥٢
د فرجام غوښتنې مقدماتی اجراآت........................................... ٥٣
د فرجام غوښتنې پر غوښتنلیک غور کول.................................... ٥٤
د اعتراض ردول.................................................................. ٥٥
د اعتراض وړ فیصلې تعدیلول.................................................. ٥٥
له ارجاع پرته ابطال.............................................................. ٥٦
مماثلې مرافعه محکمې ته ارجاع کول......................................... ٥٦
د فیصلې په صادرولو کې د سترې محکمې واک............................. ٥٧
**یوولسم فصل: د محکمو پر وروستنۍ فیصله باندی نوې کتنه (تجدید نظر)**........................................................................... ٥٧
پر فیصلې باندې نوې کتنه....................................................... ٥٧
د نوې کتنې حق.................................................................. ٥٨
د نوې کتنې اجراآت.............................................................. ٥٩
**دوولسم فصل: د محکمو د وروستنیو (نهایی) فیصلو تطبیق**....... ٦١
د فیصلو تطبیق................................................................... ٦١
د حبس د جزاگانو تطبیق....................................................... ٦١
د حبس د بدیل جزاگانو تطبیقول.............................................. ٦١

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نقدی جریمو تطبیق ........................................................ ٦٢
د شیانو د مصادرې د فیصلې تطبیق.......................................... ٦٢
د تنفیذ لپاره خاص حکمونه................................................... ٦٢
**دیار لسم فصل: مشروطه خلاصیدنه**........................................ ٦٤
تعریف ............................................................................ ٦٤
د مشروطه خلاصیدنې شرایط ................................................. ٦٤
د مشروطې خلاصیدنې د حکم الغاء.......................................... ٦٥
اجراآت .......................................................................... ٦٥
**څوار لسم فصل: په تنفیذ کې ستونزې (اشکال)**.............................. ٦٦
واک او اجراآت................................................................... ٦٦
د ملکیتونو تنازع ................................................................ ٦٦
**پنځلسم فصل: متفرقه حکمونه** ............................................... ٦٧
مؤقت مدافع وکیل................................................................ ٦٧
د محکمو نه لرونکې ولسوالۍ ګانې:........................................... ٦٧
د انفاذ نېټه او موده یې ....................................................... ٦٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست (دری)

## قانون اجراآت جزائی موقت برای محاکم

**فصل اول: احکام عمومی** ........................................ ۷۲
قواعد قابل تطبیق ........................................ ۷۲
ثبت اقدامات اجرائی ........................................ ۷۲
مدت ........................................ ۷۳
برائت الذمه ........................................ ۷۴
مظنون و متهم ........................................ ۷۴
مدت گرفتاری مؤقت ........................................ ۷۵
قانونیت اسناد و دلایل ........................................ ۷۵
فیصله نهائی ........................................ ۷۶
تزویر ........................................ ۷۶
امتناع خارنوال ........................................ ۷۷
امتناع قاضی ........................................ ۷۸
سلب صلاحیت قضائی ........................................ ۷۹
تعریف جرم مشهود ........................................ ۷۹
تفریق و یکجا سازی قضایا ........................................ ۷۹
ابطال اجراآت جزائی و عواقب آن ........................................ ۸۰
عدم اعتبار اجراآت و عواقب آن ........................................ ۸۰
مقررات عمومی برای آگاهی ........................................ ۸۱
**فصل دوم: احکام عمومی برای مظنون ومتهم** ........................................ ۸۲
وکیل مدافع ........................................ ۸۲
مساعدت حقوقی ........................................ ۸۲
ترجمان ........................................ ۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فصل سوم: راپور جرایم ونقش خارنوال** ........................ ۸۳
راپور جرایم ........................................................ ۸۳
تحریک دعوی جزائی.................................................. ۸٤
تحقیقات ........................................................... ۸٤
احالۀ تحقیق ........................................................ ۸۵
**فصل چهارم: صلاحیت محاکم** ..................................... ۸۵
صلاحیت رسیدگی جرایم .............................................. ۸۵
صلاحیت حوزوی ..................................................... ۸٦
تنازع صلاحیت....................................................... ۸٦
**فصل پنجم: پولیس عــدلی وظایف و صلاحیت های آن** ............. ۸۷
کتگوری پولیس عدلی.................................................. ۸۷
نقش پولیس عدلی .................................................... ۸۷
گرفتاری توسط پولیس عدلی.......................................... ۸۸
استنطاق توسط پولیس عدلی ......................................... ۸۸
اجراآت عاجل مامور ضبط قضائی...................................... ۸۸
**فصل ششم: تحقیقات توسط خارنوال**................................ ۸۹
تائید تصامیم پولیس.................................................. ۸۹
استنطاق از شخص گرفتار شده ....................................... ۹۰
گرفتاری و ضبط اشیاء توسط خارنوال ابتدائیه ...................... ۹۰
شـرایط اقامه دعوی در مورد گرفتاری.................................. ۹۰
جمع آوری دلایل و شواهد ............................................. ۹۱
حضور وکیل مدافع .................................................... ۹۱
نتیجۀ تحقیقات....................................................... ۹۲
**فصل هفتم: ابلاغ و نمایندگی در هنگام تحقیقات** ................... ۹۳
ابلاغ برای مظنون...................................................... ۹۳
ابلاغیه برای مظنون غایب یا وکیل قانونی وی.......................... ۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فصل هشتم: محاکمه**........................................................ ۹۴
آغاز محاکمه........................................................ ۹۴
دسترسی متهم به قرار تحقیق........................................................ ۹۴
متهم مصاب به اختلال عقلی ........................................................ ۹۴
مکلفیت متهم مبنی بر حضور در محکمه ........................................................ ۹۵
محاکمهٔ غیابی متهم مفقود........................................................ ۹۵
محاکمه متهم غائب جلب شده........................................................ ۹۶
جریان محاکمه........................................................ ۹۶
حضور شهود و اهل خبره........................................................ ۹۶
سوگند ........................................................ ۹۷
قبولی شهود و اهل خبره........................................................ ۹۷
نظم جلسهٔ قضائی ........................................................ ۹۸
طرز رسیدگی قضائی........................................................ ۹۸
معافیت و امتناع از شهادت ........................................................ ۱۰۰
ارزش دلایـل در اجـراآت تحقیق ........................................................ ۱۰۰
جرایم متعدد و شرایط آن........................................................ ۱۰۰
تعریف مختلف از وصف جرمی........................................................ ۱۰۱
نتیجهٔ محاکمه........................................................ ۱۰۱
فیصلهٔ محکمه ........................................................ ۱۰۱
امر گرفتاری در فیصله........................................................ ۱۰۲
مندرجات فیصله ........................................................ ۱۰۲
پرداخت مصارف اجراآت........................................................ ۱۰۳
**فصل نهم: اجراآت مرافعه خواهی** ........................................................ ۱۰۳
تقاضای مرافعه خواهی علیه فیصله محکمهٔ ابتدائیه............ ۱۰۳
توقف اجراآت و مرافعه خواهی در مورد متهم غایب ............ ۱۰۴
طرز مرافعه خواهی........................................................ ۱۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

محتوای درخواست مرافعه خواهی ........................................ ۱۰۵
اجراآت مقدماتی مرافعه طلبی........................................ ۱۰۵
صلاحیت محکمهٔ مرافعه ........................................ ۱۰۶
رسیدگی به درخواست مرافعه طلبی........................................ ۱۰۷
فیصلهٔ محکمهٔ مرافعه........................................ ۱۰۷
**فصل دهم: اعتراض بر حکم به پیشگاه ستره محکمه** ........................................ ۱۰۸
اعتراض علیه فیصلهٔ محکمهٔ مرافعه ........................................ ۱۰۸
میعاد اعتراض........................................ ۱۰۸
طرز اعتراض........................................ ۱۰۹
اجراآت مقدماتی فرجام خواهی........................................ ۱۰۹
رسیدگی به درخواست فرجام خواهی ........................................ ۱۱۰
رد اعتراض ........................................ ۱۱۱
تعدیل فیصلهٔ مورد اعتراض........................................ ۱۱۱
ابطال بدون ارجاع ........................................ ۱۱۲
ارجاع به محکمهٔ مرافعهٔ مماثل ........................................ ۱۱۲
صلاحیت ستره محکمه در صدور فیصله........................................ ۱۱۳
**فصل یازدهم: تجدید نظر بر فیصله نهائی محاکم** ........................................ ۱۱۳
تجدید نظر بر فیصله........................................ ۱۱۳
حق تجدید نظر ........................................ ۱۱٤
اجراآت تجدیدنظر........................................ ۱۱۵
**فصل دوازدهم: تطبیق فیصله های نهائی محاکم** ........................................ ۱۱۶
تطبیق فیصله ها ........................................ ۱۱۶
تطبیق مجازات حبس........................................ ۱۱۷
تطبیق مجازات بدیل حبس ........................................ ۱۱۷
تطبیق جرایم نقدی ........................................ ۱۱۸
تطبیق فیصله مبنی بر مصادره اشیاء ........................................ ۱۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

احکام خاص برای تنفیذ.................................................... ۱۱۸
**فصل سیزدهم**: **رهائی مشروط**............................................. ۱۱۹
تعریف........................................................................ ۱۱۹
شرائط رهائی مشروط.......................................................... ۱۲۰
الغای حکم رهایی مشروط...................................................... ۱۲۰
اجراآت........................................................................ ۱۲۱
**فصل چهاردهم: اشکال در تنفیذ**............................................ ۱۲۱
صلاحیت و اجراآت.............................................................. ۱۲۱
تنازع ملیکت ها................................................................. ۱۲۲
**فصل پانزدهم**: **احکام متفرقه**............................................. ۱۲۲
وکیل مدافع مؤقت............................................................... ۱۲۲
ولسوالی های بدون محاکم:...................................................... ۱۲۳
تاریخ انفاذ و مدت آن............................................................ ۱۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د محکمو لپاره د جزائی اجراآتو مؤقت قانون د انفاذ په باب، د افغانستان د انتقالی اسلامی دولت د رئیس فرمان

**ګڼه: (۱۱۵)**
**نېټه: ۱۳۸۲/۱۲/۴**

**لومړۍ ماده:**
د محکمو لپاره د جزائی اجراآتو مؤقت قانون چې د وزیرانو د عالی مجلس د ۱۳۸۲/۱۲/۴ نېټې (۴۲) ګڼې مصوبې په اساس په (۱۵) فصلونو او (۹۸) مادو کې تصویب شوی دی توشیح کوم.

**دوه یمه ماده:**
هغه قضیې چې د تحقیق په مرحله کې قرار لری، ددې قانون د حکمونو مطابق او هغه قضیې چې د ابتدائیه، مرافعه او دسترې محکمې په دیوانونو او یا د نوې کتنې په حالت کې ترغور لاندې دی، د ۱۳۴۴ کال د جزائی اجراآتو د حکمونو مطابق حل او فصل کېږی.

**درېیمه ماده:**
دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمی جریده کې دی خپور شي.

**حامد کرزی**
**د افغانستان د انتقالی اسلامی دولت رئیس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمحاکمو لپاره د جزائی اجراآتو مؤقت قانون

## لومړی فصل
## عمومی حکمونه

**د تطبیق وړ قواعد**

**لومړۍ ماده:**

ابتدائیه محکمه له دریو قاضیانو څخه جوړه ده چې له هغو څخه یو یې د محکمې رئیس دی. په هغو سیمو کې چې د محاکمو عادی اجراآت د امنیتی دلایلو له امله د دریو تنو قاضیانو په واسطه ترسره کیدلی نه شی، د ولایت د مرافعه محکمې رئیس صلاحیت لری یو تن قاضی توظیف کړی تر څو د مربوطې محکمې قضیې منفرداً تر غور لاندې ونیسی.

**د اجرایی اقداماتو ثبتول**

**دوه یمه ماده:**

(۱) کوم اقدامات چې د محاکمو لپاره د جزائی اجراآتو د مؤقت قانون د تطبیق په هکله ترسره کېږی، د چارو د مربوطو مسئولینو لخوا په کتبی صورت سره په لاندې توګه ثبتیږی:

- د عدلی پولیسو فعالیتونه د پولیسو د یوه غړی په واسطه چې په عملیاتو کې یې ګډون کړی دی.
- د څارنوالۍ فعالیتونه د مؤظف کارکوونکی په واسطه.
- د قاضی فعالیتونه د محکمې د محرر په واسطه.

(۲) ددې مادې په لومړۍ فقره کې درج ثبت شوې فعالیتونه د مظنون، تورن، متضرر، شهودو او اهل خبره د اظهاراتو داوریدو په وخت کې د بشپړ یا خلص متن لرونکی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) د مظنون، تورن، متضرر او شهودو ټول اظهارات د هغو د امضاء لرونکې وی که چېرې شخص د امضاء توان ونه لری، کولی شی ګوته ولګوی.
(۴) که چېرې ددې مادې په (۳) فقره کې درج شوی اشخاص له امضاء کولو څخه ډډه وکړی او یا د امضاء کولو امکانات میسر نه وی، مؤظف مامور مکلف دی چې د موضوع جریان یادداشت او ثبت کړی.
(۵) په دې ماده کې درج شوې ټول اجراآت چې د مؤظف مامور لخوا ثبت او یادداشت شوی دی، رسمی اسناد ګڼل کېږی.
که چېرې مؤظف مامور په دې ماده کې درج شوی ټول اجراآت یادداشت او ثبت کړې نه وی، داسې ګڼل کیږی چې په قضیه کې هیڅ ډول قانونی اقدام نه دی تر سره شوی او مؤظف مامور مسئول ګڼل کېږی.

**موده**

**دریمه ماده:**

(۱) د قضائی جلسو د غور کولو د اجراآتو وخت د ساعت او ورځې په اساس سنجول کېږی.
(۲)که چېرې د قضیې د څېړنې د اجراآتو وروستۍ ورځ د عمومی رخصتۍ له ورځې سره تصادف وکړی، دغه وخت یوازې دیوې بلې ورځې لپاره تمدیدیدلی شی.
(۳) د قضیې د غور کولو د وخت په محاسبه کې، د کار د پیل ساعت یا ورځ په ټاکلی وخت کې نه محاسبه کېږی.
(۴) د اسنادو د ثبت د منل کیدو یا د اجراآتو د بشپړیدو دوخت وروستی ساعتونه د مربوطو مقرراتو مطابق د هماغې ورځې له وروستی کاری ساعت څخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**برائت الذمه**

**څلورمه ماده:**

د جزايي دعوی د اقامه کولو له پیل څخه د جرمي مسئولیت تر تثبیت پورې چې شخص د محکمې په وروستنی حکم محکوم علیه بلل کېږی بیګناه ګڼل کېږی. که چېرې فیصله د شخص د بشری حقوقو د سلب یا محدودیت باعث کېږی، باید پر هغو قانونی دلایلو بناء وی چې د حقیقت په کشف پورې محدود وی.

**مظنون او تورن**

**پنځمه ماده:**

(۱) شخص هغه وخت مظنون ګڼل کېږی چې د تحقیق په هره مرحله کې، د جرم ارتکاب هغه ته نسبت ورکول شی.

(۲) شخص هغه وخت تورن ګڼل کېږی چې د څارنوال لخوا د نهه دېرشمی مادې د (۴) فقرې د حکم مطابق د هغه پر ضد دعوی اقامه شوې وی.

(۳) شخص ترهغه وخته پورې تورن پاتې کېږی چې:

- محکمې د هغه په برائت حکم نه وی کړی.
- د محکمې د وروستنی حکم پر اساس محکوم علیه ګڼل شوې نه وی.

(۴) مظنون او تورن اشخاص تر هیڅ ډول روحی او جسمی فشار لاندې نیول کیدلی نه شی.

(۵) د مظنون او تورن اظهارات په بشپړه آزاده فضا کې اخیستل کېږی.

(۶) مظنون او تورن حق لری چې سکوت اختیار کړی او د هر ډول بیان له اظهارولو څخه ډډه وکړی، اګر چې د پولیسو یا قضائی مقاماتو تر پوښتنې لاندې راشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷) پولیس، څارنوال او محکمه مکلف دی چې مظنون او تورن ته د نیول کیدو په وخت کې او له استنطاق د مخه د سکوت د حق، په ټولو مراحلو کې د مدافع وکیل د ټاکلو د حق، د تفتیش په وخت کې د حاضریدو د حق، د صف دریدو له لارې د مجرمینو د پېژندنې مقررات، د اهل خبره په واسطه د کتنو ( معاینـاتو) او محاکمې په هکله څرګند معلومات ورکړي.

(۸) د "مظنون" او "تورن" اصطلاح د هغوی د مدافع وکیل په تعریف کې هم شامل وی.

**د مؤقتی نیونی موده**

**شپږمه ماده:**

(۱) له نیونی وروسته د تحقیق په بهیرکې د مؤقت توقیف موده د (۳۶) مادې د حکم مطابق ټاکل کېږي.

(۲) ابتدائیه محکمه کولی شی د محاکمې په وخت کې د توقیف موده د دوو زیاتو میاشتو لپاره تمدید کړي.

مرافعه محکمه کولی شی د محاکمې په وخت کې د غه موده د نورو دوو میاشتو لپاره تمدیدکړي.

ستره محکمه د محاکمې په وخت کې واک لری چې دغه موده د نورو پنځو میاشتو لپاره تمدید کړي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې د تمدید موده د محاکمې په بهیر کې منقضی شی، توقیف شوی شخص له حبس څخه خلاصېږي.

**د سندونو او دلایلو قانونیت**

**اوومه ماده:**

هغه دلایل او شواهد چې د قانون د حکمونو له په پام کې نیولو پرته راټول شوې وی، د اعتبار وړنه دی، محکمه نه شی کولی د هغو په استناد حکم وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروستنۍ فیصله**

**اتمه ماده:**

(۱) د ابتدائیه محکمې فیصله هغه وخت وروستنۍ او واجب التنفیذ ګڼل کېږی چې په ټاکل شوې موده کې یې په مرافعه غوښتنې اقدام نه وی شوی.

(۲) د مرافعه محکمې فیصله هغه وخت وروستنۍ او واجب التنفیذ ګڼل کېږی چې په ټاکل شوې موده کې یې د فرجام غوښتنې غوښتنلیک سترې محکمې ته نه وی سپارل شوی.

(۳) دسترې محکمې فیصلې قطعی او واجب التنفیذ دی.

(۴) ابتدائیه څارنوال وروستنۍ فیصلې تطبیقوی، په دې منظور، مرافعه محکمه او ستره محکمه، نیول شوې فیصلې له اسنادو او ضبط شوو شیانو سره بیرته ابتدائیه څارنوالۍ ته لیږی.

**تزویر**

**نهمه ماده:**

(۱) د تحقیق یا محاکمې په ټولو پړاوونو کې مظنون، تورن یا مجنی علیه کولی شی، د هغه تزویری سند په وړاندې چې د اثباتیه دلایلو په منځ کې ځای کړی شوی دی، اعتراض وکړی.

(۲) د تحقیق یا محاکمې په پړاوونو کې اعتراض لیک، څارنوال او یا قاضی ته پرله پسې وړاندې کېږی.

(۳) په هغه صورت کې چې اعتراض لیک د تحقیق په وخت کې مربوط څارنوال ته سپارل شوی وی، څارنوال مکلف دی چې د تزویر اعتراض لیک واکمنې محکمې ته وړاندې کړی.

(۴) که چېرې څارنوال یا محکمه د سند د تزویر په اړه اعتراضلیک وارد وبولی، اجراآت معطلیږی، په دې صورت کې د تزویر په اړه تحقیق د عین څارنوال یا بل واکمن څارنوال په واسطه پیل کېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵) که چېرې د تزویر قضیه د واکمنې محکمې لخوا تر غور لاندې نیول شوې وی او پدې هکله وروستنی حکم صادر شوی وی، دتحقیق او محاکمې بهیر له سره پیل کېږی.
(۶) که چېرې ادعا شوی تزویر ثابت نه شی، سندونه وروسته دمحکمې له وروستنۍ فیصلې څخه مربوطې څارنوالۍ ته مستردېږی ترڅو په هکله یې د خپل واک په حدودو کې تصمیم ونیسی.
(۷) که چېرې د مظنون یا متهم ادعا، د څارنوال یا محکمې پواسطه رد شی، په دې صورت کې ادعا کوونکی، د قانون د حکمونو مطابق مجازات کېږی.

**د څارنوال امتناع**
**لسمه ماده:**
(۱) ابتدائیه څارنوال د مؤجه دلایلو د موجودیت په صورت کې کولی شی، له مافوق څارنوال څخه غوښتنه وکړی تر څو هغه د ځانګړې قضیې د تحقیق له اجراء کولو څخه معذور وګڼی.
(۲) مظنون حق لری د مؤجه دلایلو په وړاندې کولو سره چې ددې مادې په لومړۍ فقره کې ذکر شوې د ابتدائیه څارنوال پر ضد چې تحقیق په غاړه لری، اعتراض وکړی او د هغه رد له مافوق څارنوال څخه وغواړی.
(۳) په هغه صورت کې چې د ابتدائیه څارنوا ل یا مظنون وړاندې شوی دلایل د مافوق څارنوال د تأیید وړ وګرځی، د هغه په عوض بل څارنوال توظیفوی او یا پخپله د تورن شکایت تر غور لاندې نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قاضی امتناع

### یوو لسمه ماده:

(۱) قاضی نه شی کولی تر دغو شرایطو لاندې قضیه ترغور لاندې ونیسی:

۱- په هغه صورت کې چې ارتکاب شوی جرم د قاضی یا د هغه د خپلوانو پر ضد تر سره شوی وی.

۲- په هغه صورت کې چې قاضی د قضائی ضبط د مامور،څارنوال، شاهد یا اهل خبره په صفت په هغه قضیه کې دخالت کړی وی.

۳- په هغه صورت کې چې قاضی د تورن شخص د مدافع وکیل په توګه دنده ترسره کړې وی.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوو شرایط د موجودیت په صورت کې، قاضی مکلف دی چې د خپلې امتناع موضوع د مرافعه محکمې د رئیس په خبرتیا ورسوی.

(۳) که چېرې ددې مادې په لومړۍ فقره کې درج شوی شرایط د محکمې ټولو غړیو ته متوجه وی، د هغو د امتناع موضوع د مرافعه محکمې د رئیس په خبرتیا رسول کېږی.

(۴) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شرایط یوازې د محکمې رئیس ته متوجه وی، هغه مکلف دی چې د امتناع موضوع د پورتنۍ محکمې د رئیس په خبرتیا ورسوی.

(۵) د پورتنۍ محکمې رئیس د قاضی د امتناع غوښتنلیک وروسته له علم راوستلو څخه قبلوی یا یې ردوی، پدې هکله د محکمې د رئیس تصمیم وروستنی دی.

(۶) که چېرې د پورتنۍ محکمې رئیس د قاضی یا د محکمې د رئیس د امتناع غوښتنلیک و منی، پدې صورت کې دغور کولو لپاره بل قاضی ټاکی او توظیفوی یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷) ترهغه وخته پورې چې د پورتنۍ محکمې د رئیس وروستنی حکم صادر شی، اجراآت ځنډول کېږی.

**د قضائی واک سلبول**

**دوولسمه ماده:**

(۱) تورن یا ښارنوال حق لری چې د قاضی یا د محکمې د رئیس دواک سلبول د یوولسمی مادې په (۱) فقره کې د درج شوو دلیلونو پر اساس وړاندې کړی. غوښتنلیک د یوولسمې مادې په (۲، ۳ او ۴) فقرو کې درج، د محکمې رئیس ته وړاندې کېږی، د محکمې رئیس کولی شي غوښتنلیک رد کړی یا یې ومنی.

(۲) د واک د سلب په هکله د تصمیم د نیولو په صورت کې،دمربوطې محکمې رئیس، د هماغه قاضی یا رئیس په عوض چې واک یې سلب شوی دی، بل قاضی ټاکی او توظیفوی یې. د محکمې د رئیس تصمیم د اعتراض وړ نه دی، په دې حالت کې جزائی اجراآت د محکمې د رئیس د وروستنی تصمیم تر وخته پورې ځنډول کېږی.

**د مشهود جرم تعریف**

**دیارلسمه ماده:**

(۱) جرم د ارتکاب په وخت کې مشهود ګڼل کېږی.

(۲) د مشهود جرم مرتکب هغه شخص دی چې د جرم دارتکاب په وخت کې په بالفعل ډول ونیول شی.

(۳) په هغو مواردو کې چې مرتکب، د جرم له ارتکاب وروسته وتښتی او بلافاصله د پولیسو، زیانمن شوی شخص او یا نورو اشخاصو له خوا تر تعقیب لاندې ونیول شی، دغه حالت هم مشهود ګڼل کېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د قضیو بیلول او یو ځای کول**

**څوار لسمه ماده:**

(۱) ابتدائیه څارنـوال یا محکمـه کولی شی په لاندې حالاتو کې مختلفې قضیې سره یوځای کړی:

۱- په هغه صورت کې چې مظنون یا تورن د زیات شمیر جرمونو مرتکب شوی وی.

۲- په هغه صورت کې چې مختلف تحقیقات یا محاکمې د عین جرم د مرتکب په اړه تر سره شوې وی.

۳- په هغه صورت کې چې عین شواهد په مختلفو جرمونو پورې اړه ولری.

(۲) ابتدائیه څارنوا ل او محکمه کولی شی په لاندې حالاتو کې مختلفې قضیې یو له بل څخه جلا کړی:

۱- په هغه صورت کې چې د قضیو په غورکولو کې چټکوالی (سرعت) راشی.

۲- په هغه صورت کې چې د جرم ارتکاب د لویانو او کوچنیانو لخوا تر سره شوی وی.

**د جزائی اجراآتو ابطال او دهغه عواقب**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) جزائی اجراآت په لاندې حالاتو کې باطل ګڼل کېږی حتی قاضی ته د غوښتنلیک له وړاندې کولو پرته:

۱- هغه شخص چې د څارنوال یا قاضی په توګه دنده ترسره کوی د قانونی اهلیت لرونکی نه وی.

۲- په هغه صورت کې چې اجراآت د څارنوا ل په غیاب کې ترسره شوی وی او د څارنوال حضور د قانون مطابق حتمی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اجراآتو بی اعتباره کېدل او د هغو عواقب**

**شپاړسمه ماده:**

(۱) په پنځلسمه ماده کې له درج شویو حکمونو څخه هر ډول متفاوتی اجرایی سرغړونې په هغه صورت کې بی اعتباره ګڼل کېږی چې ذیدخل اشخاص پر هغه باندې اعتراض وکړی.

(۲) که چېرې اعتراض د تحقیق په وخت یا د محکمې په بهیر کې مطرح شې، واکمنه محکمه کولی شی د اجراآتو د بیا کتنې په هکله تصمیم ونیسی.

(۳) پر هره قضیه باندې اعتراض مرافعه محکمې یا سترې محکمې ته وړاندې کیدلی شې.

(۴) مرافعه محکمه یا ستره محکمه د اجراآتو بی اعتباروالی هغه وخت اعلاموی چې یقین یې راشی چې اجرایی سرغړونې ددوسیی د تصمیم نیولو په وخت کې د انحراف باعث ګرځیدلی دی.

**د خبرتیا لپاره عمومی مقررات**

**اووه لسمه ماده:**

(۱) د جلب او خبرتیا لیکونه د قضائی ضبط د مامور لخوا ترتیب او مربوطو مراجعو ته ابلاغېږی او د اجراآتو له نېټې څخه غوښتونکې اداري ته رپوټ ورکول کېږی.

(۲) د جلب او خبرتیا لیکونه د نظر وړ شخص د اوسیدو د ځای په پته، راساً پخپله وده ته یا د هغه بالغو خپلوانو یا هغه شخص ته چې په عین کورکی ژوند کوی، ورکول کېږی. که چېرې د جلب او خبرتیا د لیکونو تحویلول ممکن نه وی، د جلب او خبرتیالیکونه د نوموړې په پته تحویلیږی.

(۳) که چېرې شخص تر توقیف لاندې وی، د جلب او خبرتیا لیک د محبس د آمر له لارې هغه ته سپارل کېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) که چیرې د نظر وړ شخص د اوسیدنې د پتې پیدا کول ممکن نه وی، د قضائی ضبط مامور مکلف دی چې د نظر وړشخص د اوسیدنې د ځای یا د کار د ځای د کشف لپاره دقیق تحقیقات تر سره کړی، د دغه ډول تحقیقاتو د نتیجې د نه ورکولو په صورت کې د قضائی ضبط مامور مکلف دی چې لیکونه هغې ادارې ته چې د نظر وړ شخص د اوسیدنې وروستنۍ ځای ګڼل کېږی، تحویل کړی.

## دوه یم فصل
## مظنون او تورن ته عمومي حکمونه

### مدافع وکیل
### اتلسمه ماده:

(۱) د مظنون او تورن لپاره حقوقی مرستې د مسلکی اشخاصو لخوا ترسره کېږی.

(۲) د قانونی وکیلانو نوم او پیژندګلوی چې د شرعیاتو یا حقوقو د پوهنځی د دیپلوم لرونکی وی د جلا لست په ترڅ کې د عدلیې په وزارت کې برابریږی.

(۳) مظنون او تورن ته په ټولو حالاتو کې د هغوی د منتخب مدافع وکیل پواسطه مرسته کېږی.

### حقوقی مرسته
### نولسمه ماده:

(۱) که چیرې مظنون یا تورن د مدافع وکیل د استخدام مالی قدرت ونه لری، د هغوی لپاره وړیا مدافع وکیل تر دغو شرایطو لاندې ټاکل کېږی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د تحقیق څارنوال یا اړونده محکمه د مظنون یا تورن د غوښتنې پر اساس د مدافع وکیلانو د لست له منځ څخه بی بضاعته شخص ته مدافع وکیل ټاکی.
۲- هغه شخص چې وړیا مدافع وکیل ورته ټاکل کېږی د رضایت نه لرلو په صورت کې حق لری چې د ټاکل شوی مدافع وکیل له منلو څخه ډډه وکړی او شخصاً له ځان څخه دفاع وکړی.
۳- د ټاکل شوی مدافع وکیل د حق الزحمی اندازه د دولت له بودجې څخه تمویلیږی او اندازه یې د جلا تقنینی سند په واسطه ټاکل کېږی.

**ژباړونکی (ترجمان)**
**شلمه ماده:**
که چېرې مظنون یا تورن د تحقیقاتو یا محاکمې له استفادې وړ ژبې سره آشنائی ونه لری یا کوڼ یا ګنګ یا کوڼ او ګنګ وی، د هغوی لپاره ترجمان ټاکل کېږی، تر څو له هغه جرم او ادعا څخه چې ورباندی شوې ده خبر شی او همدارنګه د استنطاق او مقابلې په بهیر کې له هغوی سره مرسته وکړی.

## درېیم فصل
## د جرمونو راپور او د څارنوال نقش

**د جرمونو راپور**
**یوویشتمه ماده:**
(۱) د پولیسو مؤظفین مکلف دی چې د هر ډول جرم د پیښېدو په صورت کې حداکثر د (۲۴) ساعتونو په موده کې ابتدائیه څارنوال ته راپور ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) دولتي کارکوونکی مکلف دی د دندې د اجراء په وخت کې د هر ډول جرم له ارتکاب څخه چې خبرېږی، ابتدائیه څارنوا ل ته راپور ورکړی.
(۳) عادی اشخاص مکلف دی چې یوازې د کورنی او بهرنی امنیت پر ضد د جرمونو پېښېدل د قضائی ضبط مامورینو یا ابتدائیه څارنوال ته خبر ورکړی.

**د جزائی دعوی تحریک**

**دوه ویشتمه ماده:**

(۱) ابتدائیه څارنوال مکلف دی چې د خپل واک تر حوزې لاندې د جرمونو له پیښېدو څخه د خبریدو یا د راپور ترلاسه کولو په صورت کې د ټولو جرمونود تعقیب په خاطر د جزائی دعوی په تحریککولو پیل وکړی، مګر دا چې قانون صراحتاً بل ډول حکم کړی وی.
(۲) د جزائی دعوی پرېښودل یا درول (متوقف کول) او د هغه د بهیر ځنډول د څارنوال لخوا جواز نه‌لری، مګر په هغو حالاتو کې چې قانون تصریح کړی وی.

**تحقیقات**

**درویشتمه ماده:**

(۱) ابتدائیه څارنوال تحقیقاتی فعالیتونه شخصاً یا دقضائی ضبط د مامورینو په مرسته ترسره کوی.
(۲) له جنائی تحقیق څخه اصلی هدف د حقایقو کشفول دی. ابتدائیه څارنوال د دغه هدف د ترلاسه کولو په منظور لاندې حالات په نظر کې نیسی:

۱- د قضیې د ټولو اړخونو او شواهدو ارزیابی کول.
۲- د جرم له ارتکاب یا نه ارتکاب څخه خبرېدل.
۳- د مسئول شخص یا اشخاصو کشفول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) څارنوال د تحقیقاتو د سرته رسولو په وخت کې مکلف دی چې د جرم اثباتیه یا تبرئه کوونکی دلایل په مساوی توګه ارزیابی کړی او د زیانمنو اشخاصو ګټې په نظر کې ونیسی.

**د تحقیق احاله**

**څلیرویشتمه ماده:**

(۱) که چېرې د تحقیق په بهیر کې ثابته شی چې د قضیې د غور کولو واک د بلې ولسوالۍ مربوط دی، ابتدائیه څارنوا ل قضیه هماغې ولسوالۍ ته احاله کوی.

(۲) که چېرې مظنون ادعا وکړی چې د قضیې د غور کولو واک د بلې سیمې په ابتدائیه څارنوال پورې مربوط دی، هغه کولی شې داحالی غوښتنلیک تحقیق کوونکی څارنوال ته وړاندې کړی.

(۳) که چېرې تحقیق کوونکی څارنوال د دوسیې له احالې څخه ډډه وکړی مظنون کولی شې پورتنۍ څارنوالۍ ته شکایت وکړی. پدې هکله د پورتنی څارنوال تصمیم وروستنی دی.

## څلورم فصل
## د محکمو واک

**د جرمونو د غور کولو واک**

**پنځه ویشتمه ماده:**

د ولسوالۍ محکمه د قانون دحکمونو مطابق د قباحت، جنحې او جنایت د جرمونو د غور کولو واک لری.

**حوزوی واک**

**شپږویشتمه ماده:**

(۱) د محکمې د حوزوی واک شاخص هغه سیمه ده چې جرم دهغې په جغرافیایی محدوده کې واقع شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د جرم د ارتکاب د قصد په صورت کې، دقضیې د غور کولو واک هغه محکمه لری چې په جرم پورې مربوط وروستنی ارتکاب شوی عمل په هغه ځای کې بشپړ شوی وی.
(۳) د استمراری یا متوالی جرم په صورت کې د قضیې دغور کولو واک په هغې محکمې پورې مربوط کېږی چې استمراری یا متوالی جرم په هغې سیمې کې دوام موندلی او ختم شوی وی.
(۴) که چېرې تورن ته له یوه څخه د زیات جرم نسبت ورکول شی، د قضیې د غور کولو واک په هغې محکمې پورې مربوط کېږی چې ډیر شدید جرم په هغې سیمې کې واقع شوی وی.
(۵) که چېرې محکمه د هغې قضیې د غورکولو په وخت کې چې پکی څو جرمونه ارتکاب شوی وی، تشخیص کړی چې ډیر شدید جرم په بله ونډ کې ارتکاب شوی دی، دوسیه هماغې محکمې ته احاله کوی.

**د واک تنازع**

**اووه ویشتمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې تنازع د حوزوی واک پر اساس د دوو محکمو ترمنځ چې په یوه ولایت کې موقعیت لری، رامنځ ته شی، قضیه د مرافعه محکمې د رئیس لخوا ترغورلاندې نیول کېږی.
(۲) که چېرې تنازع د دوو محکمو ترمنځ په مختلفو ولایتونو کې وی، دوسیه د ستری محکمې لخوا ترغور لاندې نیول کېږی.
(۳) د حوزوی واک د تنازع حل او فصل د ذیدخلو محکمو دیوې یا د مربوط څارنوال د غوښتنې پر اساس صورت مومی.
(۴) د واک د تنازع په اړه د حل او فصل فیصله واکمنې محکمې ته احاله کېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم فصل
## عـدلی پولیس او د هغـو دندې او واکونه

**د عدلی پولیسو کټګوری**

**اته ویشتمه ماده:**

(۱) د عدلی پولیسو افسران په لاندې کټګوریو کې شامل دی:

۱- دعدلی پولیسوافسران چې دهېواد د پولیسو په عالی کدر کې قرار لری.

۲- عادی عدلی پولیس چې د عدلی پولیسو له افسرانو څخه په ښکته مقام کې واقع وی.

(۲) د عدلی پولیسو دندې او واکونه د خاصو تقنینی سندونو د حکمونو مطابق د عامه خدمتونو نورو مؤظفینو ته سپارل کیدای شی.

**د عدلی پولیسو نقش**

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) عدلی پولیس خپلې دندې د څارنوال په لارښوونه او دستور سرته رسوی.

(۲) عدلی پولیس د عدالت د تأمینولو په خاطر مکلف دی چې جرمونه کشف، شواهد او اثباتیه دلائل راټول او مظنونین تعقیب کړی.

**د عدلی پولیسو په واسطه نیول**

**دیرشمه ماده:**

(۱) عدلی پولیس کولی شی په خپل واک په لاندې حالاتو کې شخص ونیسی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د جنایت یا جنحې د جرم د ارتکاب په وخت کې چې جزاء یې متوسط حبس وی.
۲- هغه شخص چې د جنایت د جرم په ارتکاب قلمداد شوی او دغائبیدو امکان یې متصور وی.
(۲) په نورو حالاتو کې د پولیسو په واسطه نیول د واکمنو عدلی او قضائی مقاماتو د دستور په اساس صورت مومی.

**د عدلی پولیسو په واسطه استنطاق**

**یو دیرشمه ماده:**

(۱) د عدلی پولیسو په واسطه د شخص د نیولو او دهغه له تثبیت وروسته د نیولو دلایل هغه ته ابلاغ او توضیح کوی، عدلی پولیس مکلف دی چې زیات نه زیات د (۲۴) ساعتونو په موده کې له مظنون څخه د هماغه جرم په استنطاق او ګروېږنې لاس پورې کړی.
(۲) عدلی پولیس مکلف دی چې د استنطاق له پای ته رسیدو وروسته د خپلو اجراآتو راپور مربوط ابتدائیه څارنوال ته ولیږی او مظنون د نورې ګرویږنې او استنطاق لپاره هغه ته وسپاری.

**دقضائی ضبط د مامور عاجل اجراآت**

**دوه دیرشمه ماده:**

(۱) د قضائی ضبط مامورین د جرم د ارتکاب په وخت کې او دمؤجه دلیلونو د موجودیت په صورت کې د عاجلو اجراآتو دتر سره کولو لپاره د هغو دلیلونو د لاسته راوړلو په خاطر چې ضروری یې بولی، لاندې ابتدایی تحقیقات پیل کوی:
۱- د مظنون شخص د اوسیدنې د کور او نورو مربوطو ځایونو تلاشی کول.
۲- دشیانو او اسنادو ضبطول.
۳- د نورو اشخاصو او ځایونو پلټل اوله هغوی څخه عکس اخیستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- دمربوطو اجراآتو د ترسره کولو لپاره له متخصصینو او اهل خبره وو څخه چې دمسلکی وړتیا لرونکی وی د مرستې غوښتنه.
(۲) دقضائی ضبط مامورین مکلف دی چې د خپلو اجراآتو راپور پرته له ځنډه ابتدائیه څارنوال ته وړاندې کړی.
(۳) مدافع وکیل، مظنون یا تورن حق لری چې د (۳۸) مادې د حکم مطابق د قضیې د استنطاق او تحقیق په ټولو پړاوونو کې حاضر وی.

## شپږم فصل
## د څارنوال پواسطه تحقیقات

### د پولیسو د تصمیمونو تأییدول
### درې دیرشمه ماده

(۱) ابتدائیه څارنوال مکلف دی چې په(۳۰، ۳۱ او۳۲) مادو کې درج شوی د پولیسو داجراآتو د خبر له ترلاسه کولو وروسته پرته له ځنډه د هغه د تأییدولو، ردولو یا لغو کولو په هکله تصمیم ونیسی.
(۲) ابتدائیه څارنوال واک لری چې د پولیسو د اجراآتو له تأییدولو، ردولو یا لغو کولو مخکې له هغوی څخه نوره زیاته توضیح وغواړی.

### له نیول شوی شخص څخه استنطاق
### څلور دیرشمه ماده

(۱) ابتدائیه څارنوال مکلف دی چې هغه ته دشخص له سپارلووروسته د (۴۸) ساعتو په موده کې استنطاق وکړی.
(۲) ابتدائیه څارنوا ل په هغه صورت کې چې د مظنون شخص دتوقیف دوام ضرور ونه بولی، کولی شی د هغه په ایله کولو امر وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### دابتدائیه څارنوال پواسطه نیول او دشیانو ضبطول

**پنځه دیرشمه ماده:**

(۱) ابتدائیه څارنوال کولی شی د تحقیق په بهیر کې د هغه شخص په نیولو چې د جنایت یا جنحې د جرم چې جزائی متوسط حبس وی مرتکب شوی وی، او د جرم مرتبط د شیانو په ضبطولو امر صادر کړی.

(۲) نیول شوی شخص باید د (۴۸) ساعتونو په موده کې تر استنطاق لاندې ونیول شی.

### د نیولو په هکله د دعوی د اقامه کولو شرایط

**شپږ دیرشمه ماده:**

که چیرې نیول د پولیسو په واسطه تر سره شوی وی او د څارنوال لخوا تأیید یا د توقیف قرار د څارنوال په واسطه صادر شوی وی او دغه قرار په خپل قوت باقی پاتې وی او څارنوال د نیولو له نیټې څخه په (۱۵) ورځو کې، صورت دعوی محکمې ته وړاندې نه کړې، تورن خوشی کیږی، مګر داچې د څارنوال د په وخت غوښتنې په اثر، د توقیف موده دنورو (۱۵) ورځو لپاره تمدید شوې وی.

### د دلایلو او شواهدو راټولول

**اووه دیرشمه ماده:**

(۱) ابتدائیه څارنوال مکلف دی چې د تحقیق په بهیر کې ټول څرګند دلایل او شواهد چې د مظنون په ګټه یا زیان وی، راټول کړی.

(۲) ابتدائیه څارنوال د جرم د دلایلو او اسبابو او آلاتو په راټولولو کې آزاد دی او د خاصو شکلیاتو او بندیزونو تابع نه دی.

(۳) اساسی اثباتیه وسایل او مدارک په لاندې ډول دی:

- شهود.
- د شهودو مقابله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په صف کې په بالمواجه ډول د تورن پیژندنه (لاین اپ).
- د ځای تفتیش.
- تلاشی.
- د شیانو ضبطول.
- ارزیابی او تخصصی کتنې.
- استنطاق.

**د مدافع وکیل حضور**

**اته دېرشمه ماده:**

(۱) مدافع وکیل حق لری چې د مظنون د استنطاق دبهیر په ټولو پړاوونو کې حاضر وی.

(۲) مدافع وکیل او مظنون حق لری چې د تلاشۍ، په صف کې د مجرمینو د پېژندنې په مقابله کې، د اهل خبره وو لخوا په کتنې او محاکمې کې حاضر وی.

(۳) څارنوال او عدلی پولیس مکلف دی چې د پلټنې، د شهودو د مقابلې، د صف له لارې د پېژندنې د طرز العمل او د اهل خبره وو د کتنې په صورت کې، مظنون او د هغه مدافع وکیل د تحقیق په ټولو پړاوونو کې د حضور په غرض خبرکړی.

دغه مکلفیت یوازې په هغه صورت کې کیدلی شې ساقط شې چې په جرم کې د عاجل ضرورت احساس مشهود یا دالزام د دلایلو د له منځه تلو ویره متصوره وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تحقیقاتو پایله

**نهه دېرشمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې څارنوال د تحقیقاتو په پای کې تشخیص کړي چې د الزام مؤجه او کافی دلایل وجود نه لري، کولی شي دوسیه حفظ کړي.

(۲) مجنی علیه یا پورتنی څارنوال کولی شي، خپل اعتراض ددې تصمیم په وړاندې د لسو ورځو په موده کې مربوطې محکمې ته وړاندې کړي.

(۳) محکمه کولی شي د دوسیې له غور کولو وروسته، د څارنوال تصمیم تأییدیاردکړې او یا برعکس له هغه څخه دادعا نامی (صورت دعوی) غوښتنه وکړي.

(۴) په ځینو نورو قضایاوو کې څارنوال باید ادعانامه محکمې ته وسپاري او له محکمې څخه د شخص د جرمی مسئولیت د غور کولو غوښتونکی شي.

(۵) د دعوی اقامه (صورت دعوی) دلاندې ټکو لرونکې وي:

- دمظنون هویت اوبشپړې ځانګړتیاوې.
- د جرم بشپړ تعریف.

(۶) ابتدائیه څارنوال باید هغه دوسیه چې د تحقیق د شواهدو او قراینو لرونکې وي، له صورت دعوی سره یو ځای محکمې ته وړاندې کړي، ضبط شوی شیان او مالونه هم محکمې ته سپارل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم فصل
## د تحقیقاتو په وخت کې ابلاغ او استازیتوب

### مظنون ته ابلاغ
### شلوېښتمه ماده:

(۱) د قضائی ضبط مامور او ابتدائیه څارنوال مکلف دی چې د تحقیق په بهیر کې مظنون، مدافع وکیل او مجنی علیه له هغو فعالیتونو څخه چې کوی یې خبر کړی او هغوی حق لری چې حاضر وی.

(۲) د فوری اقداماتو د ترسره کولو دلایلو د نه موجودیت په صورت کې، ابلاغیه لېږلړه درې ورځې مخکې د اقدام له ترسره کولو څخه وړاندې کېږی.

(۳) دبیړنی میعاد دلایل چې د لنډ میعاد یا د ابلاغیی د نه وړاندې کولو غوښتنه وکړی، په څرګند ډول د تحقیق په پاڼو کې تشریح او ثبتیږی.

### غائب مظنون یا دهغه مدافع وکیل ته ابلاغیه
### یو شلوېښتمه ماده:

(۱) که چېرې په (۱۷) ماده کې د درج شوو ځایونو تثبیتول ممکن نه وی، ابلاغیه هغه مدافع وکیل ته چې د تحقیق په وخت کې د پولیسو یا څارنوال لخوا د غائب مظنون لپاره ټاکل شوی دی، سپارل کېږی.

(۲) مدافع وکیل د پولیسو یا څارنوال لخوا په لیکلی ډول ټاکل کېږی، په دې صورت کې مدافع وکیل، د مظنون شخص وکالت په غاړه اخلی.

(۳) غائب مظنون ته د مدافع وکیل د ټاکلو په هکله نیول شوی تصمیم یوازې د تحقیق د پای ته رسیدو تر وخته پورې اعتبار لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتم فصل
## محاکمه

**د محاکمې پیل**
**دوه څلوېښتمه ماده:**
(۱) محکمه د صورت دعوی له ترلاسه کولو وروسته، پرته له ځنډه، ابلاغیه پاڼه چې د محاکمې د نېټې او ورځې لرونکې وی، صادروی.
(۲) ابلاغ پاڼه چې په هغې کې د تورن نوم، نسبت ورکړل شوی جرم له هغو حقیقی شرایطو سره یو ځای چې په قانون کې ذکر شوی، شامل وی، د محاکمې له نېټې څخه لږترلږ ه پنځه ورځې د مخه تورن، دهغه مدافع وکیل، مجنی علیه او څارنوال ته ورکول کېږی.

**د تحقیق قرار ته د تورن لاس رسېدل**
**درې څلوېښتمه ماده:**
تورن او مدافع وکیل یې حق لری چې د (۳۹) مادې په (۶) فقره کې درج شوی په دوسیه کې شامل اسناد او ضبط شوی شیان وګوری او ډاډ ترلاسه کړی.

**په عقلی اختلال اخته تورن**
**څلور څلوېښتمه ماده:**
(۱) که چېرې د محاکمې په بهیر کې احساس شی چې تورن په روانی ناروغۍ اخته دی او له خپلو حقوقو څخه د دفاع کولو توان نه لری، محکمه واک لری چې په خپله یا د ابتدائیه څارنوال د غوښتنې په اثر د محاکمې بهیر وځنډوی او تورن د طبی کتنو لپاره ولېږی.
(۲) که چېرې د طبی کتنو په پایله کې د تورن ناروغی ثابته شی د اجراآتو بهیر د هغه تر بیا روغیدو پورې ځنډول کېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) که چېرې تورن وروسته په حبس محکوم شی، د دماغی تداوۍ او معالجې موده د هغه د حبس له مودې څخه کمیږی.

**په محکمه کې د تورن د حضور مکلفیت**

**پنځه څلویښتمه ماده:**

(۱) آزادیا توقیف شوی تورن مکلف دی، هغه وخت چې د هغه حضور له شهودو سره د مخامخ کیدو یا دهغه فزیکی حضور د محکمې په وړاندې ضروری و ګڼل شی، محکمې ته حاضر شې.

(۲) په هغه صورت کې چې آزاد تورن ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالاتو کې محکمې ته له حاضریدو څخه ډډه وکړی د پولیسو په واسطه محکمې ته احضاریږی.

**د ورک شوي (مفقود) تورن غیابی محاکمه**

**شپږ څلویښتمه ماده:**

(۱) که چېرې د (۱۷) مادې د حکم مطابق تورن ته د ابلاغیې تسلیمول د هغه د اوسیدنې د ځای د نه تثبیتیدو له امله ناشونی وی، محکمه د هغه په ورکیدو (مفقودیت) حکم کوی او مدافع وکیل ورته ټاکی وروسته ابلاغیه د غائب تورن مدافع وکیل ته ورکول کیږی.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې ابلاغیه په ټولو مواردو او مقاصدو کې مرعی الاجراء ده.

(۳) د محکمې حکم د تورن د ورک کیدو او د مدافع وکیل د ټاکلو په هکله د هغه د مودې تر پای ته رسیدو پورې اعتبار لری او په راتلونکو حکمونو کې هر ځل نوې کیږی.

(۴) محکمه مکلفه ده چې په (۱۷) ماده کې په درج شوو سیموکې د غائب تورن له لټولو وروسته نوی حکم هر ځل په جلا ډول صادر کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جلب شوي غائب تورن محاکمه**

**اووه څلوېښتمه ماده**

(۱) که چېرې په (۴۲) ماده کې درج شوې د احضاریې پاڼه تورن ته وسپارل شی، مګر هغه محکمې ته حاضر نه شی، په دې صورت کې محکمه هغه ته مدافع وکیل ټاکی.

(۲) د احضاریې پاڼه په (۱۷) ماده کې د درج شوې حکم مطابق، تورن ته بیا لیږل کېږی.

**د محاکمې بهیر**

**اته څلوېښتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې محاکمه د زیاتو جلسو د دایریدو غوښتنه وکړی، محکمه مکلفه ده چې د وروستیو جلسو ورځ او ساعت وټاکی او له موضوع څخه تورن، مدافع وکیل اونورو ذیدخلو اشخاصو ته په لیکلی ډول خبر ورکړی.

**د شاهدانو او اهل خبره حضور**

**نهه څلوېښتمه ماده:**

شهود او اهل خبره مکلف دی چې د ورسپارل شوې ابلاغ پاڼې د مندرجاتو مطابق په قضائی جلسه کې حاضر شی. په هغه صورت کې چې هغوی له مؤجه عذر پرته امتناع وکړی، د محکمې د حکم پر اساس د پولیسو په واسطه احضار او د پنځه سوه (۵۰۰) افغانیو نقدی جریمې په ورکولو محکومېږی.

**قسم**

**پنځوسمه ماده:**

(۱) هغه شهود چې د (۱۴) کلنۍ سن یې بشپړکړی وی، مکلف دی چې د شهادت له اداء کولو مخکې د الله "ج" په نامه داسې قسم یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی چې، له حقیقت پرته نور څه نه بیانوی او په خپل شهادت کې صادق دی.

(۲) په هغه صورت کې چې شاهد د اشهد بالله کلمه په دی پوهې سره چې دغه کلمه د قسم معادل ده، اداء کړی، پدې صورت کې مکلف نه دی چې د خدای "ج" په نوم قسم یاد کړی.

تر (۱۴) کلنۍ لاندې کوچنیانو د شهادت آوریدل د قسم له یادولو پرته، یوازې د معلوماتو د راټولولو په منظور مجاز دی.

**د شاهدانو او اهل خبره منل**

**یو پنځوسمه ماده:**

(۱) ابتدائیه څارنوال مکلف دی چې د نظر وړ شاهدان او اهل خبره، له صورت دعوی، د شاهدانو د شاهدۍ له دلایلو او د اهل خبره له نظریو سره یو ځای محکمې ته وړاندې کړی.

(۲) تورن یا مدافع وکیل حق لری د شاهدانو او اهل خبره لست، د شاهدی د دلایلو له توضیح او کتنو سره محکمې ته وړاندې کړی.

(۳) محکمه واک لری د هغو شاهدانو او اهل خبره نومونه چې شاهدی یې په قضاوت کولو کې اغیزناکه نه وی، له لست څخه حذف کړی.

(۴) محکمه واک لری هغه شاهدان او اهل خبره چې په وړاندې شوو فهرستونو کې شامل نه وی، احضار کړی.

**د قضایی جلسې نظم**

**دوه پنځو سمه ماده:**

(۱) رئیس د قضائی جلسې نظم حاضرینو ته توضیح کوی او هغه ساتی.

(۲) قضائی جلسې علنی وی، هر شخص کولای شی هغه وګوری مګر دا چې رئیس د اخلاقی دلایلو، د کورنۍ د راز ساتنې یا د عامه نظم ساتنې ته په پام سره د جلسې یوه برخه یا هغه ټوله سری اعلام کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) ابتدائیه ځارنوال، تورن او مدافع وکیل یې حق لری چې تل په قضائی جلسه کې حاضر وی.
(۴) په هغه صورت کې چې مدعی علیه د جلسې نظم ګډوډ کړی محکمه واک لری چې ګډوډوونکی د قضائی غور د بهیر له یوې برخې څخه وباسی، مګر د حکم د ابلاغ په وخت کې نوموړی بیرته قضائی جلسې ته احضاروی.

**د قضائی غور کولو ډول**

**درې پنځوسمه ماده:**

(۱) ابتدائیه ځارنوال مکلف دی، د قضیې د غور کولو په وخت کې په قضائی جلسه کې ګډون وکړی.
(۲) تورن او مدافع وکیل یې حق لری، د قضیې د غور کولو په وخت کې په قضائی جلسه کې حاضر وی.
(۳) په قضائی جلسه کې په قضیې غور کول د لاندې مراتبو په رعایتولو سره صورت مومی:
۱- د قضائی غور کولو په پیل کې، مربوطه محکمه صورت دعوی لولی.
۲- په هغه صورت کې چې تورن تر توقیف لاندې وی، محکمه مکلفه ده پرته له ځنډه قضیه تر غور لاندې ونیسی چې آیا توقیف قانونی دی که نه؟ او په هغه صورت کې چې د هغه توقیف غیر قانونی او غیر ضروری تشخیص کړی، د تورن په خلاصولو فیصله صادروی.
۳- ابتدائیه ځارنوال د قضیې د تحقیق قرار د تحقیق د پایلو (نتیجو) په څرګندونو سره په شفاهی ډول وړاندې کوی.
۴- عدلی پولیس چې د تحقیق چارې په غاړه لری، د ترسره شوو فعالیتونو شفاهی رپوټ وړاندې کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- لومړی شاهد مجنی علیه دی، وروسته د نورو شاهدانواو اهل خبره وواظهارات اوریدل کیږي.
۶- په هغه صورت کې چې تورن ونهغواړی د خپل د سکوت له حق څخه استفاده وکړی، کولای شی لازم توضیحات وړاندې کړی.
تورن او مدافع وکیل کولای شی، شاهدان او اهل خبره وپوښتی.
۷- که چېرې شاهدان د روغتیایی معاذیرو له امله د محکمې په وړاندې حاضر نه شی، محکمه کولای شی دهغوی شاهدی د هغوی په استوګنځی کې واوری.
۸- ابتدائیه څارنوال او مدافع وکیل کولای شی له تورن څخه پوښتنه وکړی.
(۴) محکمه په ټولو حالاتو کې کولای شی، په قضائی جلسو کې له شاهدانو او تورن څخه پوښتنه وکړی او عندالاقتضاء هغوی ته د نظریو په مقابله امر وکړی.
(۵) تورن کولای شي د سکوت د حق پر بنسټ د محکمې پوښتنو ته ځواب ورنکړی.

**له شاهدۍ څخه معافیت او ډډه کول**

**څلور پنځوسمه ماده:**

(۱) زوجین کولای شی یو پر بل باندی د شاهدۍ له ادا کولو څخه ډډه وکړی که څه هم چې د کوروالۍ اړیکی یی پرې (قطع) شوې وی.
(۲) تر دوه یمی درجی پورې د تورن اصول، فروع او خپلوان (اقارب) په هغه صورت کې کولای شی د تورن پر ضد د شاهدۍ له اداء کولو څخه ډډه وکړی چې:
- شاهد د هغه جرم د ارتکاب له امله چې په قانونی توګه تورن ته نسبت ورکړل شوی دی، زیانمن شوی نه وی.
- په هغه صورت کې چې تر دوه یمی درجې پورې د تورن اصولو، فروعو او خپلوانو د جرم د واقع کیدو رپوټ ورکړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د تحقیق په اجراآتو کې د دلایلو ارزښت**

**پنځه پنځوسمه ماده:**

د شاهدانو د شاهدۍ پاڼې او د اهل خبره تخصصی کتنې چې د تحقیق په بهیر کې راټولې کړې شوې دی کولای شی د تصمیم بنسټ جوړ کړی. پدې شرط چې پایلی وښیی چې تورن او منتخب مدافع وکیل یې د تحقیق په بهیر کې حاضر وو او په داسې موقف کې وو چې وکولای شی خپل سوال او اعتراض وړاندې کړی، پرته لدې پورتنی سندونه یوازې د قرینې جنبه لری.

**متعدد جرمونه او شرایط یې**

**شپږپنځوسمه ماده:**

که چېرې د تحقیق په پایله یا د محاکمې په ترڅ کې څرګنده (استنتاج) شی چې اضافی جرمونو یا داسې حقایقو چې د قضیې مشدده حالات یې منځ ته راوړی صورت موندلی مګر په صورت دعوی کې له هغو څخه یادونه نه وی شوی، محکمه واک لری چې د ابتدائیه څارنوال په غوښتنه اړوند تور د تورن او د هغه مدافع وکیل ته ( د حضور په صورت کې) ابلاغ او د دفاع لپاره کافی وخت ورته ورکړل شی.

**له جرمی وصف څخه مختلف تعریف**

**اووه پنځوسمه ماده:**

که چېرې محکمه تشخیص کړی له هغه جرم څخه چې په ادعا نامه کې ذکر شوی دی متفاوت جرمی وصف وجود لری مکلفه ده، د حقایقو او شرایطو او د تور د محاکمې د بهیر په پام کې نیولو سره، تورن او مدافع وکیل ته یې له جرم څخه دمتفاوت تعریف د دفاع په خاطر کافی وخت ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د محاکمې پایله

**اته پنځوسمه ماده:**

ابتدائیه څارنوال حق لری د محاکمې په بهیر کې خپل نظر بیان کړي او له محکمې څخه وغواړي څو د تور د ردولو تصمیم او یا د هغې جزاء د ډول او اندازې په ټاکلو سره چې د تورن له حال سره مناسب وی، پر تورن د جزاء حکم صادر کړي.

تورن یا قانونی وکیل د حضور په صورت کې د تور د دفع دلایل د قضائی جلسې رئیس ته وړاندې کوی.

## د محکمې فیصله

**نهه پنځوسمه ماده:**

(۱) د محاکمې د بهیر په پای کې قاضی د قضیې د غورکولو ختم اعلاموی او د محکمې سالون د حکم د لیکلو لپاره پریږدی.

(۲) قاضی د حکم له لیکلو وروسته بیا د محاکمې سالون ته راننوزی او حکم ابلاغوی، د حکم لوستل دهغه د ابلاغ حیثیت لری.

په هغه صورت کې چې د حکم دلایل د قاضی لخوا ونه لوستل شی نوموړی دلایل د حکم د صادریدو له نېټې څخه د (۱۵) ورځو په موده کې د محرر لخوا تنظیم او ترتیب او فیصله صادریږی.

(۳) ابتدائیه څارنوال، تورن او مدافع وکیل یې، ددې مادې په (۲) فقره کی له درج شوې بهیر څخه د محکمې د محرر په واسطه خبریږی.

(۴) په غیابی محاکمه کې تورن حق لری چې د (۴۷) مادې د حکم مطابق د لوستل شوې تصمیم ابلاغیه د حکم له دلایلو سره یو ځای چې د محکمې د لیک (تحریراتو) دفتر ته سپارل کېږی، ترلاسه کړی.

(۵) ددې مادې په (۴) فقره کې درج شوې ابلاغیه د (۴۶) مادې د حکم مطابق مدافع وکیل ته ور تسلیمیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په فیصله کې د نیونې امر**

**شپېتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې محکمه تورن له دریو کلونو څخه په زیات حبس محکوم کړی، د حکم په متن کې کولای شی د هغه د نیونی امر هم صادر کړی.

**د فیصلې مندرجات**

**یو شپېتمه ماده:**

په فیصله کې لاندې مطالب شامل وی:

۱- د تورن پیژندنه (هویت).

۲-په تورن لیک (اتهام نامه) کې د شاملو حقایقو او جزئیاتو تعریف.

۳- شاملو واقعیتونو او د استناد وړ قانون حکمونو ته په اشاری سره دفیصلې د دلایلو لنډ بیان.

۴- د حکم نص.

**د اجراآتو د لګښتونو ورکړه**

**دوه شپېتمه ماده:**

(۱) د جزا ګانو د ټاکلو په وخت کې محکمه کولای شی پر محکوم علیه باندی د هغو لګښتونو په ورکړې چې د اجراآتو په بهیر کې لګول شوېدی امر وکړی.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو لګښتونو اندازه، د حکم د صادریدو په وخت کې تثبیت نه شی، محکمه د لګښتونو د ورکړې په هکله حکم صادروی او د محکمې تحریراتو ته لارښوونه کوی چې د هغو دقیقه اندازه محاسبه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم فصل
## د مرافعه غوښتنې اجراآت

**د ابتدائیه محکمې د فیصلې پر خلاف د مرافعه طلبۍ غوښتنه**

**درې شپېتمه ماده:**

(۱) محکوم علیه یا ابتدائیه څارنوال کولای شی د ابتدایه محکمې د فیصلې په خلاف مرافعه طلبی وکړی.

(۲) د مرافعه غوښتنې واکمنه مرجع د مرافعه محکمې ریاست دی.

(۳) د مرافعه غوښتنې غوښتنلیک د حکم د صادروونکې محکمې د تحریراتو دفتر یا د اړوندې مرافعه محکمې د تحریراتو دفتر ته د (۲۰) ورځو په موده کې تسلیمیږی. دغه موده د لاندې حالاتو په پام کې نیولو سره محاسبه کیږی:

۱- په هغه صورت کې چې محکمې د فیصلې او د دلایلو متن یې د محاکمې د جلسې په پای او د محکوم علیه او یایی د مدافع وکیل په حضور کې لوستلی وی.

۲- په هغه صورت کې چې محکمې د حکم د صادرولو دلایل له حکم سره یو ځای نه وی لوستلی او محکوم علیه یایی مدافع وکیل ته بیا ابلاغ کړی، پدې حالت کې دوخت پیل د دوه یمې ابلاغیې له نېټې څخه محاسبه کیږی.

۳- په هغه صورت کې چې فیصله د تورن په غیاب کې شوې وی او دفیصلې ابلاغیه ترلاسه کړی.

۴- په هغه صورت کې چې په عین فیصله کې له یوه شخص څخه زیات محاکمه شوې وی دوخت پیل د وروستنۍ ابلاغیې له نېټې څخه محاسبه کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د غایب تورن په هکله د اجراآتو او مرافعه غوښتنې درول (توقف)**
**څلور شپېتمه ماده:**

(۱) د تورن پر غایب والی د محکمې فیصله تر هغه وخته چې تورن شخصاً یا یې مدافع وکیل د مرافعه غوښتنې غوښتنلیک وړاندې کوی، د قضیې د غور کولو بهیر درول کېږی. پدې حالت کې د تورن لپاره د مرافعه غوښتنې د پیل وخت د هغه د حاضریدو له وخت څخه پیل کېږی او د (۱۷) مادې د حکم مطابق د ابلاغیی پاڼه هغه ته استول کېږی.

(۲) د څارنوال لپاره د مرافعه غوښتنې وخت هغه وخت پیل کېږی چې محکمه تورن ته د ابلاغیې له تسلیمولو څخه هغه ته ډاډ ورکړی.

(۳) په هغه صورت کې چې تورن او څارنوال د ذکر شوی وخت په ترڅ کې د مرافعه غوښتنې غوښتنلیک وړاندې نکړی، د محکمې فیصله وروستنۍ (نهائی) ګڼل کېږی.

**د مرافعه غوښتنې ډول**
**پنځه شپېتمه ماده:**

(۱) د مرافعه غوښتنې غوښتنلیک د تورن یا یی د مدافع وکیل په واسطه چې د محاکمې په بهیر کې یې د هغه وکالت کړی دی او یا پخپله د ابتدائیه څارنوال لخوا لاسلیک او وړاندې کېږی.

(۲) د مرافعه غوښتنې د غوښتنلیک اخیستونکی د محکمې د تحریراتو دفتر د هغه د تسلیمۍ ساعت او نېټه ثبتوی.

(۳) په هغه صورت کې چې مرافعه غوښتونکی تورن د بې سوادۍ یا په بل علت په لاسلیک کولو قادر نه وی، کولای شی ګوته کښیږدی، د محکمې د تحریراتو دفتر موضوع د راجستر په کتاب کې ثبتوی.

(۴) په هغه صورت کې چې بیسواده شخص وغواړی مرافعه غوښتنه وکړی او د غوښتنلیک د کتبی متن په وړاندې کولو قادر نه وی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمې د تحریراتو دفتر د هغه و یناوې (بیانات) د محکمې د راجستر په کتاب کې ثبتوی.

### د مرافعه غوښتنې د غوښتنلیک محتوی

**شپږشپېتمه ماده:**

(۱) د مرافعه غوښتنې په غوښتنلیک کې د محکمې فیصله او هغه دلایل توضیح کېږی چې د هغو په اساس فیصله داعتراض وړ گرځیدلې ده.

(۲) د محکمې فیصله د لاندې دلایلو له مخې د اعتراض وړگرځیدلی شی:

۱- دقانون او جرمی وصف په تطبیق کې تیروتنه (خطا).

۲- د قضیې له حالاتو او حقایقو څخه غیر واقعی ارزونه او نتیجه اخیستنه.

۳- د جزاء په ټاکنه او اندازه کې تیروتنه (خطا).

### د مرافعه غوښتنې مقدماتی اجراآت

**اووه شپېتمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې د مرافعه غوښتنې غوښتنلیک د هغې محکمې د تحریراتو دفتر ته چې د اعتراض وړ فیصله یې صادره کړیده وسپارل شو، د تحریراتو دفتر مکلف دی هغه پرته له ځنډه مرافعه محکمې ته واستوی او د غوښتنلیک نقل (کاپی) د راجستر په کتاب کې ثبت کړی، په عین وخت کې دی د محکمې د تحریراتو دفتر، غوښتنلیک او اړونده دوسیه له هغو ټولو سندونو سره چې دلومړنیو اجراآتو په پړاو کې بشپړ شوېدی، له ضبطو شوو شیانو سره یوځای پرته له ځنډه مرافعه محکمې ته واستوی.

(۲) په هغه صورت کې چې د مرافعه غوښتنې غوښتنلیک د مرافعه محکمې د تحریراتو دفتر ته وسپارل شی، د مرافعه محکمې رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوسیه او هغه سندونه چې دلومړنیو اجراآتو په پړاوکې بشپړ شویدی له ضبطو شوو شیانو سره یوځای له هغې محکمې څخه چې د اعتراض وړ فیصله یې صادره کړیده غواړي.
(۳) د مرافعه محکمې رئیس مکلف دی د غوښتنلیک او هغه شیانو له تر لاسه کولو وروسته چې په (۲) فقره کې ذکر شویدی، د قضائی جلسې نېټه او ساعت و ټاکی، د محکمې تصمیم د پولیسو په واسطه مرافعه طلب او د مرافعې څارنوال ته ابلاغیږی او ورته ابلاغیه ابتدائیه څارنوال او محکوم علیه ته سپارل کېږي.
(۴) د ابلاغیې پاڼه د قضائی جلسې د جوړیدو له نېټې څخه لږترلږه پنځه ورځې مخکې، محکوم علیه او د مرافعې څارنوال ته سپارل کېږي.
(۵) د مرافعې څارنوال، محکوم علیه او مدافع وکیل حق لری سندونه مطالعه او ضبط شوې شیان ووینی.

**د مرافعه محکمې واک**
**اته شپېتمه ماده:**
(۱) د مرافعې محکمې په واسطه غور کول یوازې په هغو مواردو پورې منحصر دی چې د مرافعه طلبۍ اعتراض په هغو کې صورت موندلی وی.
(۲) په هغه صورت کې چې د مرافعه طلبۍ غوښتنلیک دڅارنوال لخوا مرافعه محکمې ته وړاندې شوی وی، محکمه کولای شې یو له دغو لاندې تصمیمونو څخه ونیسی:
۱- هغه تورن چې د ابتدائیه محکمې لخوا یې برائت حاصل کړی وی محکوم کړی.
۲- د جزاء زیاتول په هغه صورت کې چې د قانون په تأویل او تطبیق کې تیروتنه (خطا) شوې وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) په هغه صورت کې چې د مرافعه طلبۍ غوښتنلیک د تورن لخوا مرافعه محکمې ته وړاندې شوی وی، مرافعه محکمه په هیڅ وجه نشی کولای د هغې جزاء اندازه چې د ابتدائیه محکمې له خوا ټاکل شویده زیاته کړی.

**د مرافعه طلبۍ په غوښتنلیک غور**

**نهه شپېتمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې مرافعه محکمه لومړنی بشپړ شوي اجراآت د مرافعوی فیصلې لپاره کافي ونه بولی کولای شی د شاهدانو شاهدی او د اهل خبره نظریې چې د مخه په ابتدائیه محکمه کې بیان شوې دی، واوری او نوی دلایل د حکم د صادرولو په مقصد پیدا او برابر کړی.

(۲) په هغه صورت کې چې د نویو دلایلو پیدا کول ممکن نه وی، مرافعه محکمه د موجودو سندونو په استناد او په هغو دلایلو سره چې په غونډه کې بیانیږی، حکم صادر وی.

**د مرافعه محکمې فیصله**

**اویایمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې د مرافعه طلبۍ غوښتنلیک په ټاکلی میعاد کې وړاندې نشی، مرافعه محکمه هغه ردوی.

(۲) مرافعه محکمه د ابتدائیه محکمې فیصله ټوله یا یوه برخه تأیید یا اصلاح کوی.

(۳) مرافعه محکمه په خپله فیصله کې کولای شی د تر توقیف لاندې محکوم په حبس یا خلاصولو حکم وکړی.

(۴) مرافعه محکمه د حکم د صادرولو په وخت کې، په (**۵۹**) ماده کې درج شوی حکمونه رعایتوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم فصل
## دسترې محکمې په وړاندې پر حکم باندې اعتراض

### د مرافعه محکمې په خلاف اعتراض

**یو اویایمه ماده:**

محکوم علیه، زیانمن (متضرر) یا مرافعه څارنوال کولای شی د مرافعه محکمې د فیصلې په خلاف په لاندې حالاتو کې دسترې محکمې په وړاندې فرجام غوښتنه وکړي:

۱- په هغه صورت کې چې د مرافعه محکمې حکم د قانون په تطبیق یا تأویل کې په تیرو تنې (خطا) باندې بناء وی.

۲- په هغه صورت کې چې د مرافعه محکمې حکم د (۷) مادې د مندرجاتو پر بنسټ بناء شوی وی.

### د اعتراض میعاد

**دوه اویایمه ماده:**

د اعتراض غوښتنلیک، د حکم صادروونکی مرافعه محکمې دتحریراتو دفتر یا دسترې محکمې د اړوند دیوان د تحریراتو دفتر ته د (۶۳) مادې په (۳) فقره کې ددرج شوو شرایطو مطابق د (۳۰) ورځو په موده کې سپارل کیږی.

### د اعتراض ډول (طرز)

**درې اویایمه ماده:**

د مرافعه محکمې پر حکم باندې اعتراض د (۶۵) مادې د حکم په رعایتولو سره د غور وړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د فرجام غوښتنې مقدماتی اجراآت**
**څلور اویایمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې د فرجام غوښتنې غوښتنلیک د هغې محکمې د تحریراتو دفتر ته چې د اعتراض وړ فیصله یې صادره کړې ده وسپارل شي، د تحریراتو دفتر مکلف دی غوښتنلیک او اړونده دوسیه له ټولو هغو سندونو سره چې د لومړنیو اجراآتو په پړاو کې بشپړ شوی دی، له ضبطو شوېو شیانو سره یو ځای بې له ځنډه ستر محکمې ته واستوی او د غوښتنلیک کاپی د راجستر په کتاب کې ثبت کړی، په عین حال کې د فرجام غوښتنې غوښتنلیک د سترې محکمې د اړوند دیوان د تحریراتو دفتر ته سپارل کېږی.

د اړوند دیوان رئیس دوسیه او هغه سندونه چې د لومړنیو اجراآتو په پړاو کې بشپړ شوی دی له ضبطو شوېو شیانو سره یو ځای له هغې محکمې څخه چې د اعتراض وړفیصله یې صادره کړې ده غواړی.

(۲) په هغه صورت کې چې دسترې محکمې اړوند دیوان اعتراض ترلاسه کړی کولای شی د مرافعه محکمې د تحریراتو له دفتر څخه وغواړی ترڅو دوسیه او هغه سندونه چې د لومړنیو اجراآتو په پړاو کې بشپړ شوی دی له ضبطو شوو شیانو سره یو ځای له هغې محکمې څخه چې د اعتراض وړ فیصله یې صادره کړې ده وغواړی.

(۳) دسترې محکمې اړوند دیوان مکلف دی د غوښتنلیک، دوسیې او نورو سندونو چه په (۲) فقره کې ذکر شوی دی له تر لاسه کولو وروسته د قضائی غونډې نېټه او ساعت د خپل د تحریراتو د دفتر له لارې وټاکی، د محکمې تصمیم د پولیسو په واسطه فرجام غوښتونکی تورن او څارنوال ته ابلاغیږی. ورته (مشابه) ابلاغیه باید څارنوال، مستأنف او محکوم علیه ته پداسې حال کې چې استیناف طلبی د څارنوال لخوا صورت موندلی وی، وسپارل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) دستري محکمې د اړوند دیوان د تحریراتو دفتر مکلف دی چې د قضائی جلسې د جوړیدو له نېټې څخه لږ تر لږه پنځه ورځې د مخه د ابلاغیی پاڼه محکوم علیه او څارنوال ته هم اخبار کړی.
(۵) محکوم علیه، مدافع وکیل او څارنوال حق لری چې سندونه مطالعه او ضبط شوی شیان ووینی.

**د فرجام غوښتنې پر غوښتنلیک غور کول**
**پنځه اویایمه ماده:**

(۱) د ستري محکمې د اړوند دیوان قاضی د جلسې په پیل کې د قضیې بهیر په شفاهی توګه بیانوی او د مرافعه محکمې پر فیصلې د اعتراض موارد او د شکایت دلایل توضیح کوی.
فرجام غوښتونکی وروسته خپل اعتراض په شفاهی توګه وړاندې کوی، هغه نیوکې او اشتباه ګانې چې دده له نظره، په فیصله کې وجود لری او له قانون څخه سرغړونې چې صورت یې موندلی دی، بیانوی.
وروسته مقابل لوری د اعتراض په رد یا د مرافعه محکمې له فیصلې څخه په ملاتړ خپل دلایل وړاندې کوی.
(۲) د مباحثې په بهیر کې دسترې محکمې د اړوند دیوان رئیس او غړی، د موضوع د زیات وضاحت په منظور خپلې پوښتنی مطرح کولای شې.
ددیوان رئیس، قضائی جلسه د جلسې په پای کې پریږدی، د قضیې په هکله تصمیم نیسی، وروسته د دیوان رئیس قضائی جلسې ته مراجعه کوی او حکم لولی.
(۳) د دیوان رئیس کولای شې د فیصلې د صادرولو دلایل ولولی یا یې د اړوند دیوان د تحریراتو دفتر ته وسپاری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اعتراض ردول**

**شپږ اویایمه ماده:**

ستره محکمه په لاندې حالاتو کې اعتراض ردوی او د مرافعه محکمې فیصله تأییدوی:

۱- په هغه صورت کې چې اعتراض په ټاکلې موده کې وړاندې شوی نه وی.

۲- په هغه صورت کې چې اعتراض په (۷۱) ماده کې په درج شوو قضیو پورې اړه ونلری.

۳- په هغه صورت کې چې اعتراض مؤجه ثابت نشی.

**د اعتراض وړ فیصلې تعدیلول**

**اووه اویایمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې د مرافعه محکمې حکم د قانون په تطبیق یا تأویل کې په خطاء استناد بنا شوی وی، دغه امر فیصله نه باطلوی، پدې شرط چې د مرافعه محکمې په حکم کې پریکنده (قاطع) اغیزه ونلری. پدې حالت کې دسترې محکمې اړوند دیوان فیصله اصلاح کوی او په هکله یې د فیصلې صادروونکې محکمې ته خبر ورکوی.

(۲) په هغه صورت کې چې په اعتراض وړ فیصله کې د جزاء اندازه او ډول په غلطه توګه درج شوی وی، دغه امر هم د فیصلې دبطلان موجب نه ګرځی، د سترې محکمې لخوا تصحیح کېږی.

(۳) دسترې محکمې دیوان د اعتراض وړ فیصله په مستقیم ډول ولو که د معترض په اعتراضیه کې شامل نه وی کولای شی تصحیح کړی، پدې شرط چې قانونی احکام زیات د تورن په ګټه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له ارجاع پرته ابطال**

**اته اویایمه ماده:**

(۱) دستري محکمې دیوان د اعتراض وړ فیصله په لاندې حالاتو کې باطله اعلاموي:

۱- په هغه صورت کې چې تور د قانون د حکمونو مطابق جرم نه وي ګڼل شوی.

۲- په هغه صورت کې چې جرم تر مرور زمان لاندې راغلی وي.

۳- په هغه صورت کې چې قضیه په غیر قانوني توګه تعقیب شوې وي.

۴- په هغه صورت کې چې د نظر وړ فیصله د مرافعه محکمې د قانوني واک له حوزې څخه بهر وي.

۵- په هغه صورت کې چې حکم دبل شخص په مورد کې صادر شوی وي.

۶- په هغه صورت کې چې ثابته شي چې په عین قضیه کې د هغه شخص په برخه کې پخوا فیصله شوې وي.

۷- په هغه صورت کې چې دستري محکمې دیوان د قضیې ارجاع او یا یې تعدیل د موجودو سندونو په اساس غیر ضروري وګڼي.

**مماثلې مرافعه محکمې ته ارجاع کول**

**نهه اویایمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې په راغلو قضیو کې په (۷۶، ۷۷ او ۷۸) مادو کې درج شوی شرایط موجود نه وي، د ستري محکمې اړوند دیوان فیصله نقض کوي، دوسیه د غور کولو په غرض مماثلې مرافعه محکمې او یا هماغې لومړۍ محکمې ته ارجاع کوي، پدې شرط چې لومړی فیصله کوونکی قاضیان د دوسیې په حل او فصل کې ګډون ونکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) دستري محکمې اړوند دیوان مماثلې محکمې یا لومړۍ محکمې ته د دوسیې د ارجاع په ترخ کې لازمه لارښوونه صادروی چې په بیا غورکولو کې د رعایت وړ وی.
(۳) د مرافعه محکمې فیصله د (۷۱) مادې د حکمونو مطابق د اعتراض وړ ګرځیدلی شی.

**د فیصلې په صادرولو کې د سترې محکمې واک**
**اتیایمه ماده:**
ستره محکمه واک لری د اعتراض وړ فیصله کلاً یا قسماًنقض کړی.

## یوولسم فصل
## د محکمو پر وروستنۍ فیصله باندی نوې کتنه (تجدید نظر)

**پر فیصلې باندې نوې کتنه**
**یو اتیایمه ماده:**
د محکوم علیه د منفعت لپاره د جنحې او جنایت په قضیو کې په وروستنیو فیصلو باندې نوې کتنه په لاندې حالاتو کې صورت موندلای شی:
۱- که هغه حقایق چې حکم د هغو پر بنسټ ولاړ وی له هغو حقایقو سره چې په بله وروستنۍ فیصله کې وجود لری مطابقت ونلری.
۲- په داسې حالت کې چې جزائی حکم، دیوې مدنی محکمې پر یوه صادره حکم باندی ولاړ وی او د نوموړې مدنی محکمې حکم لغو شې.
۳- په داسې حالت کې چې له حکم وروسته داسې پیښې را منځته یا ښکاره شې یا داسې پانې وړاندې شی چې د محاکمې په وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومې نه وی او ممکنه ده دغه پیښې یا پاڼې د محکوم علیه برائت ثابت کړی.

**۴**- په داسې حالت کې چې د شاهدانو یا اهل خبره د زور (درواغو) شاهدی، مستند تزویر یا ځینې غیر قانونی اعمال څرګند شی، محکمه د هغو په هکله وروستنۍ فیصله صادروی.

**۵**- په داسې حالت کې چې تورن د قتل په جرم کې محکوم علیه واقع شی، داسې نوی دلالت کوونکی عناصر رامنځ ته شی چې د شخص د قتل نه پیښیدل ثابت کړی.

**۶**- که حکم د بهیر (جریان) په پای کې د تورن له رسمی خبرتیا پرته صادر شی یا دا چې د محاکمې په بهیر کې ده ته د حاضریدو حق ور نکړای شی چې په نتیجه کې یې د مدافع وکیل د ټاکلو له حق څخه محروم شې یا دا چې د محکوم علیه د نه حاضریدو علت په روښانه او ریښتینی صورت معلوم نه وی او یا دا چې محکمه دغه امر ته نه وی متوجه شوې.

**د نوې کتنې حق**

**دوه اتیایمه ماده:**

څارنوال او محکوم علیه یا مدافع وکیل، نږدې خپلوان یا د هغه وارثان حق لری د محکوم پر وروستنیو فیصلو د نوې کتنې غوښتنه وکړی، په هر صورت د نوې کتنې په غوښتنه د محکوم علیه د موافقې اخیستل اړین (ضروری) ګڼل کېږی. مګر دا چې د محکمې په وړاندې ثابته شی چې محکوم علیه د قانونی اهلیت نه لرونکی دی، پدې صورت کې مدافع وکیل، نږدې خپلوان یا وارثان یې کولای شی د محکوم علیه له موافقې پرته د نوې کتنې غوښتنه وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نوې کتنې اجراآت**

**درې اتیایمه ماده:**

(۱) د نوې کتنې غوښتنلیک له هغو سندونو سره یو ځای چې د نوې کتنې غوښتنه پرې درول (استناد) شوېده، سترې محکمې ته وړاندې کېږي.

(۲) د اعدام د حکم په استناد نوی کتنې غوښتنلیک د اعتراض وړ فیصلې د تطبیق خنډ نه ګرځي.

(۳) د نوې کتنې غوښتنلیک دسترې محکمې له یوه قاضي او د مرافعه محکمې له دوو قاضیانو څخه د جوړ هیئت لخوا چې د سترې محکمې د رئیس له لوري ټاکل کېږي، ارزول کېږي او تر غور لاندې نیول کېږي. لوی څارنوال د نوې کتنې د غوښتنلیک په هکله خپل نظر بیانوي.

(۴) په هغه صورت کې چې هیئت د نوې کتنې غوښتنلیک مؤجه وګڼي، غوښتنلیک له اړوندې دوسیې سره یو ځای سترې محکمې ته وړاندې کوي پرته لدې هیئت نوموړی غوښتنلیک ردوي. دغه تصمیم د اعتراض وړ ندی.

(۵) په هغه صورت کې چې د نوې کتنې غوښتنلیک او اړونده دوسیه یې سترې محکمې ته ورسیږي، ستره محکمه د قضیې د غور کولو نېټه ټاکي او د جلسې له پیل څخه لږترلږه پنځه ورځې د مخه، هغه معترض او لوی څارنوال ته ابلاغوي.

څارنوال او محکوم علیه او یا مدافع وکیل حق لري، د قضیې د غور کولو په جلسه کې د نوې کتنې په هکله خپلې نظریې بیان کړي.

(۶) په هغه صورت کې چې محکمه د معترض د نوې کتنې غوښتنه تأیید او شکایت ثابت شي، حکم باطلوي او د هغه برائت اعلاموي.

(۷) په هغه صورت کې چې د نوې کتنې غوښتنلیک د سترې محکمې په وړاندې بې ځایه ثابت شي، هغه ردوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸) په هغه صورت کې چې دستري محکمې په وړاندې ثابته شي چې د نوې کتنې غوښتنلیک زیاتې ارزونې ته اړتیا لري دوسیه له لازمې لارښوونې سره یوځای مماثلې محکمې یا هغې محکمې ته چې فیصله یې د اعتراض وړګرځیدلې ده ارجاع کوي، پدې شرط چې قاضیان یې هغه پخوانی (لومړی) قاضیان نه وي کوم چې حکم یې صادر کړی دی.
(۹) د نوې کتنې وړ قضیې غور، د دعواوو د اوریدلو لپاره د مرعی الاجراء قواعدو مطابق صورت مومی او شوې فیصله د پخوانۍ فیصلې ځای نیسی، هغه اعتراض چې پر لومړۍ فیصلې مجاز دی پر وروستنۍ فیصله هم مجاز دی.
(۱۰) په هغه صورت کې چې محکوم علیه د نوې کتنې پر بنسټ برائت حاصل کړي، له پخوانیو (لومړنیو) قاضیانو پرته جوړه شوې محکمه، د اجراآتو د لګښتونو او نورو هغو لګښتونو داعادې حکم چې محکوم علیه د مخکینی حکم په پایله کې د هغو په ورکولو مکلف شوی دی، صادروی.
د محکوم علیه د مړینې په صورت کې لګښتونه د هغه ورثې ته ورکول کیږي.
(۱۱) په هغه صورت کې چې د نوې کتنې غوښتنلیک رد شی، محکوم علیه نشی کولای د عین مخکینیو دلایلو پر بنسټ بیا د نوې کتنې غوښتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوولسم فصل
## د محکمو د وروستنیو (نهایی) فیصلو تطبیق

### د فیصلو تطبیق
**څلور اتیایمه ماده:**

د محکمـو د وروسـتنیو فیـصلو تطبیـق، د (۸) مـادې د (۴) فقـرې د حکم مطابق، د څارنوال له دندو څخه دی.

### د حبس د جزاګانو تطبیق
**پنځه اتیایمه ماده:**

(۱) څـارنوال واک لـری، د محکوم علیـه د نیـونې او حبس حکـم چـې پخوا نه وی توقـیف شوی، د محل پولیسو ته صادر کړی.
(۲) که چېرې د محکوم علیـه استوګنه د سیمې د پولیسو د واک لـه حوزې څخـه بهـر وی، د پولیـسو آمـر صـادر شـوی دسـتور د اړونـدې سیمې د پولیسو واکمن آمر ته ور استوی، همغه څـارنوال کولای شـې دستور مستقیماً نوموړې آمر ته واستوی.
(۳) کـه چېـرې محکـوم علیـه مخکـې پـه توقیـف کـې وی، څـارنوال مکلف دی د عدلیې وزارت د حکم د تطبیق د غوښتنې په هکله خبر کړی. دغه خبرتیا د شخص پر پیژندنه او نورو خصوصیاتو، د قضائی فیصلې او تاکل شوې جزاء په ذکر کولو مشتمله ده.

### د حبس د بدیل جزاګانو تطبیقول
**شپږ اتیایمه ماده:**

(۱) څارنوال واک لری د حبس د بدیل جزاګانو د تطبیـق امر، د (۸۵) مادې د (۲) فقرې حکمونو تـه پـه پـام سره، دسیمی د پولیـسو آمر تـه صادر کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) پولیس مکلف دی وخت په وخت د محکوم علیه کړنه (عمل) وڅاری او رپوټ یې اړوند څارنوال ته ورکړی.
(۳) په هغه صورت کې چې محکوم علیه د محکمې د دستورونو په خلاف عمل کړی وی، څارنوال موضوع اړوندې محکمې ته خبر ورکوی. محکمه کولای شی نیول شوی تجویز لغو او د حکم شوی حبس استمرار یې په ځای و دروی.

**د نقدی جریمو تطبیق**

**اووه اتیایمه ماده:**

(۱) څارنوال کولای شی د جریمی د تطبیق دستور د عدلیې وزارت ته وسپاری.
(۲) د عدلیې وزارت مستقیماً یا له مالی دایرو څخه د همکارۍ د غوښتنې په اساس کولای شی ذکر شوې پیسی چې د مالیی وزارت ته تسلیمیږی، را ټولې کړی.

**د شیانو د مصادرې د فیصلې تطبیق**

**اته اتیایمه ماده:**

(۱) څارنوال د محکوم علیه د شیانو او شتمنۍ د مصادرې امر دسیمی د پولیسو آمرته چې شیان او شتمنۍ هلته موقعیت لری صادروی. په دغه امر کې د نوموړو شیانو او شتمنۍ د نښو او مشخصاتو د تثبیت لپاره ضروری یاد دښتونه شامل دی.
(۲) د شیانو او شتمنۍ د مصادرې حکم د پولیسو په واسطه تطبیقیږی.

**د تنفیذ لپاره خاص حکمونه**

**نهه اتیایمه ماده:**

(۱) له وروستنۍ فیصلې د مخه د نیونی یا د مجازاتو د بدیل موده، د حبس له مودې څخه کمیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) په هغه صورت کې چې د حبس حکم پر هغې ښځې باندې چې شپږ میاشتنۍ امیند واره وی، صادر شوی وی، څارنوال باید د حکم تطبیق، د حمل له وضع وروسته تر څلورو میاشتو پورې وځنډوی.

(۳) په هغه صورت کې چې محکوم علیه په روانی ناروغیو اخته شی، څارنوال باید د امر تطبیق د هغه د روغتیا تربیرته راګرځیدو پورې وځنډوی او لازښوونه وکړی څو هغه د معالجې او درملنې لپاره روغتون ته ولیږدوی د درملنې موده د محکوم بها د حبس له مودې څخه کمیږی.

(۴) په هغه صورت کې چې محکوم علیه په صعب العلاج ناروغیو باندی اخته وی او په محبس کې د حبس د جزا تیرول د هغه روغتیا ته په زیان تمام شی، د مؤظف طبی کمیسیون د وړاندیز په اساس څارنوال باید ، د حکم تطبیق ودروی، په هغه صورت کې چې د یاد شوی شخص روغتیا اعادهٔ شی، حکم په حبس بی له ځنډه تطبیقیږی، د معالجی موده د محکوم بها د حبس له مودې څخه نه کمیږی.

(۵) په هغه صورت کې چې ښځه او میړه په یوه وخت د واحدو او یا جلا جلا جرمونو په ارتکاب له یوه کال څخه په لږ حبس محکوم شوې وی څارنوال باید دهغوی د یوه د حبس حکم و ځنډوی، پدې شرط چې خوشې شوی، متکرر مجرم نه وی او دهغه ماشوم د سرپرستۍ مسئولیت چې له پنځلسو کلونو څخه لږ عمر ولری، ورپه غاړه وی، د حبس حکم هغه وخت تطبیقیږی چې ماشوم د پنځلس کلنۍ سن ته ورسیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیار لسم فصل
## مشروطه خلاصېدنه

**تعریف**

**نوی یمه ماده:**

مشروط خلاصون د محکوم علیه د حبس د مودې له پای ته رسیدو د مخه چې ترخاصو شرایطو لاندې قرار لري د هغه د خلاصولو له تصمیم څخه عبارت دی، دغه موده دده د حبس د مودې معادل وي.

**د مشروطه خلاصیدنې شرایط**

**یونوی یمه ماده:**

(۱) مشروط خلاصیدنه هغه شخص ته ورکول کېږي چې دیوه یا له یوه څخه د زیاتو جرمونو په نتیجه کې حبس او د حبس څه موده یې تیره کړې وي او په محبس کې د اوسیدو په وخت کې یې سلوک او ناسته پاسته (روش) د هغه د ټولنیزو اخلاقو په اصلاح دلالت وکړي. دغه آسانتیا هغه شخص ته ورکول کېږي چې د محکوم بها د حبس د مودې دري پر څلورمه برخه یې بشپړه کړې، او یا لږ تر لږه (۹) میاشتې یې په محبس کې تیرې کړې وي، د دوام حبس د جزا په هکله دغه آسانتیا کولای شي هغه چاته ورکول شي چې د حبس (۱۵) کاله یې تیر کړي وي.

(۲) د محکوم علیه مشروطې خلاصیدنې په برخه کې تصمیم، د محبس د آمر په وړاندېز دهغې واکمنې محکمې په واسطه چې محکوم علیه د هغې په قضایي ونډ کې محبوس دی، نیول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمه په خپل حکم کې هغه سلوک او کړنه چې محکوم علیه باید په راتلونکې کې هغه رعایت کړی، ذکر کوی.
(۳) پولیس مکلف دی د تر مشروطې خلاصیدنې لاندې محکوم علیه سلوک او کړنه وڅاری او وخت په وخت مربوط څارنوال ته رپوټ ورکړی.

**د مشروطې خلاصیدنې د حکم الغاء**

**دوه نوی یمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې تر مشروطې خلاصیدنې لاندې شخص د محکوم بها د مودې له تیریدو د مخه دبل جرم مرتکب شی او یا د مشروطې خلاصیدنې په حکم کې درج شوی شرایط نقض کړی، پدې حالت کې د مشروطې خلاصیدنې حکم لغو کیږی.
(۲) د مشروطې خلاصیدنې د حکم د لغوې په صورت کې، د تر مشروطې خلاصیدنې لاندې نیمایی تیره شوې موده، د محکوم بها د حبس له مودې څخه کمیږی.
(۳) هغه محکمه چې د څارنوال د غوښتنې پر بنسټ د مشروطې خلاصیدنې حکم صادروی، د هغې د لغوې تصمیم هم نیسی.

**اجراآت**

**دری نوی یمه ماده:**

(۱) محکمه د محکوم علیه د مشروطې خلاصیدنې د حکم د صادرولو یا لغوې په برخه کې، د محکوم علیه او څارنوال داظهاراتو له اوریدو وروسته تصمیم نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) مخکې تر دې چې محکمه د مشروطې خلاصیدنې په برخه کې تصمیم ونیسي، د هغه محبس د آمر دلایل چې محکوم علیه پخوا په هغه کې د خپل حبس موده تیره کړې ده اوري.

## څوارلسم فصل
## په تنفیذ کې ستونزې (اشکال)

**واک او اجراآت**

**څلور نوی یمه ماده:**

(۱) د (۸) مادې په (۴) فقره کې درج شوې محکمه واک لري، د محکوم علیه یا څارنوال د غوښتنې پربنسټ د حکم په تنفیذ کې ستونزې (اشکال) ترغورلاندې ونیسي.

(۲) په هغه صورت کې چې محکمه اشکال مؤجه ونه بولي، په هغو له غور کولو څخه ډډه کوي، پرته لدې د محکوم علیه یا څارنوال شکایت اوري، قانوني تصمیم نیسي او د وضع د سمون په غرض د محبس آمر ته لازمه لارښوونه صادروي.

(۳) فیصله محکوم علیه، څارنوال او د محبس آمر ته ابلاغیږي.

(۴) فیصله په هغه صورت کې د مرافعه طلبۍ وړ ګرځیدلای شي چې د بشر له حقوقو څخه سخته سرغړونه شوې وي.

**د ملکیتونو تنازع**

**پنځه نوی یمه ماده:**

په هغه صورت کې چې جزائی محکمه ونشي کولای، دمصادره شوو شیانو یا شتمنۍ د ملکیت د تنازع موضوع، دموجودو سندونو او دلایلو پربنسټ حل کړي، موضوع د مدني محکمې یا د سولې (صلحیه) جرګو په واسطه حل او فصل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځلسم فصل
## متفرقه حکمونه

### مؤقت مدافع وکیل
**شپږ نوی یمه ماده:**

له کومه ځایه چې اوس په هېواد کې کافی مدافع وکیلان وجود نلری او همغه شان چې په (۱۸) ماده کې ذکر شوېدی، تورن یا مظنون کولای شی تحصیل یافته اشخاصو ته چې په حقوقی قضیو کې عالمان وی مراجعه وکړی.

پدې منظور د هرې محکمې رئیس د شرایطو واجد اشخاصو لست چې په مرکز کې د عدلیې وزارت او په ولایتونو کې د دولت د قضایاوو د ادارو لخوا مرافعه محکمو ته معرفی کېږی، ترتیبوی.

### د محکمو نه لرونکې ولسوالۍ ګانې
**اووه نوی یمه ماده:**

په هغه صورت کې چې په ځینو ولسوالیو کې د مختلفو عواملو له امله محکمې فعالې نه وی، د مرکز ابتدائیه محکمه ټول هغه جرمونه چې د نومړې ولسوالۍ د واک په ونډ کې ارتکاب کېږی، ترغور لاندې نیسی.

### د انفاذ نېټه او موده یې
**اته نوی یمه ماده:**

(۱) دغه قانون د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمی جریده کې خپرېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) دغه قانون د جزائی اجراآتو د قانون د وضع کیدو تر وخته چې د منتخبې ملی شوری لخوا تصویبیږی، د اجراء وړ دی مګر دا چې ملی شوری ددې قانون یا یې داصلاح په برخه کې تصمیم ونیسی.
(۳) د دې قانون په نافذیدو سره د هغو قوانینو هر حکم چې ددې قانون د حکمونو متناقض وی لغو ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانون اجراآت جزایی مؤقت برای محاکم

جریدۀ رسمی شمارۀ (۸۲۰)
مؤرخ ۱۳۸۲/۱۲/۶ هـ. ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرمان**

**رئیس دولت انتـقالی اسلامی افغانستان در بارۀ انفاذ قانون اجراآت جزائی مـؤقت برای محاکم**

**شماره: (۱۱۵)**

**تاریخ:۱۳۸۲/۱۲/۴**

**مادۀ اول:**

قانون اجراآت جزائی مؤقت برای محاکم را که به اساس مصوبۀ شـماره (٤٢) مؤرخ ١٣٨٢/١٢/٤ از طرف مجلس عالی وزرأ بـه داخـل (١٥) فـصل و(٩٨) ماده تصویب گردیده است توشیح می‌دارم.

**مادۀ دوم:**

قضایائی‌کـه در مرحلـۀ تحقیـق قـرار دارد، مطـابق احکـام ایـن قـانون و قضایائی‌که در محـاکم ابتدائیه، مرافعه و دیوان های ستره محکمه و یا در حـالت تجدید نظر تحت رسیدگی بوده، طبق احکام قانون اجراآت جزائـی سال ١٣٤٤، تعدیلات مربوط آن و سایر قوانین نافـذه حـل و فـصل مـی-گردد.

**مادۀ سوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نـافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس دولت انتـقالی اسلامی افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قانون اجراآت جزائی مؤقت برای محاکم

### فصل اول
### احکام عمومی

**قواعد قابل تطبیق**

**مادۀ اول:**

محکمۀ ابتدائیه متشکل از سه قاضی بوده که یکی از آن‌ها رئیس محکمه می‌باشد. در مناطقی که اجراآت عادی محاکم توسط سه نفر قاضی بنا بر دلایل امنیتی صورت گرفته نتواند، رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت صلاحیت دارد یک نفر قاضی را توظیف نماید تا قضایای محکمۀ مربوط را منفرداً رسیدگی نماید.

**ثبت اقدامات اجرائی**

**مادۀ دوم:**

(۱) اقداماتی‌که در زمینۀ تطبیق قانون اجراآت جزائی مؤقت برای محاکم صورت می‌گیرد، توسط مسئولین امور مربوط به صورت کتبی ذیلاً ثبت می‌گردد:

- فعالیت‌های پولیس عدلی توسط یکی از اعضای پولیس که در عملیات اشتراک نموده است.
- فعالیت‌های ثارنوالی توسط کارمند مؤظف.
- فعالیت‌های قاضی توسط محرر محکمه.

(۲) فعالیت‌های ثبت شدۀ مندرج فقرۀ اول این ماده حاوی متن کامل و یا خلص اظهارات مظنون، متهم، متضرر، شهود و اهل خبره در جریان سمع می‌باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) تمام اظهارات مظنون، متهم، متضرر و شهود حاوی امضاء آن‌ها می-باشد، اگر شخص توانائی امضاء را نداشته باشد می‌تواند شصت بگذارد.

(٤) در صورتی‌که اشخاص مندرج فقرهٔ (۳) این مادهٔ از امضاء کردن امتناع ورزند و یا امکانات امضاء میسر نباشد، مامور مؤظف مکلف است جریان موضوع را یادداشت و ثبت نماید.

(٥) تمام اجراآت مندرج این ماده که از طرف مامور مؤظف ثبت و یادداشت گردیده است، اسناد رسمی شمرده می‌شود.

در صورتی‌که مامور مؤظف تمام اجراآت مندرج این ماده را یادداشت و ثبت ننموده باشد، چنین پنداشته می‌شود که در قضیه هیچ نوع اقدام قانونی صورت نگرفته و مامور مؤظف مسئول شناخته می‌شود.

**مدت**

**مادهٔ سوم:**

(۱) میعاد اجراآت رسیدگی جلسات قضائی به اساس ساعت و روز سنجش می‌گردد.

(۲) هرگاه روز اخیر میعاد اجراآت رسیدگی قضیه به روز رخصتی عمومی تصادف نماید، این میعاد صرف برای یک روز دیگر تمدید شده می‌تواند.

(۳) در محاسبه، میعاد رسیدگی قضیه ساعت و یا روز آغاز کار در میعاد معینه محاسبه نمی‌شود.

(٤) آخرین ساعات میعاد قبولی ثبت اسناد و یا به اکما ل رسیدن اجراآت عبارت از آخرین ساعت کاری همان روز طبق مقررات مربوط می‌باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**برائت الذمه**

**مادۀ چهارم:**

از آغاز اقامۀ دعوی جزائی الی تثبیت مسئولیت جرمی که شخص به حکم نهائی محکمه محکوم علیه قرار می‌گیرد، بیگناه پنداشته می‌شود. اگر فیصله باعث سلب و یا محدودیت حقوق بشری شخص می‌گردد باید استوار به دلایل قانونی بوده که محدود به کشف حقیقت باشد.

**مظنون و متهم**

**مادۀ پنجم:**

(۱) شخص زمانی مظنون پنداشته می‌شود که در هر مرحله از تحقیق، ارتکاب جرم به وی نسبت داده شود.

(۲) شخص زمانی متهم پنداشته می‌شود که از طرف څارنوال مطابق حکم فقرۀ (٤) مادۀ سی و نهم علیه وی اقامۀ دعوی صورت گرفته باشد.

(۳) شخص تا زمانی متهم باقی می‌ماند که:

- محکمه به برائت وی حکم ننموده باشد.
- به اساس فیصلۀ نهائی محکمه محکوم علیه قرار نگرفته باشد.

(٤) اشخاص مظنون و متهم تحت هیچگونه فشار روحی و یا جسمی قرار گرفته نمی‌توانند.

(٥) اظهارات مظنون و متهم در فضای کاملاً آزاد اخذ می‌گردد.

(٦) مظنون و متهم حق دارد سکوت اختیار نموده از اظهار هر گونه بیان امتناع ورزد، گر چه توسط پولیس یا مقامات قضائی تحت بازپرس قرار گیرد.

(۷) پولیس، څارنوال و محکمه مکلف اند معلومات واضح را در وقت گرفتاری و قبل از استنطاق راجع به حق سکوت، حق تعیین وکیل مدافع

(c) ketabton.com: The Digital Library



در تمام مراحل، حق حضور در هنگام تفتیش، مقررات شناسائی مجرمین از طریق صف کشیدن، معاینات توسط اهل خبره و محاکمه برای مظنون و متهم ارائه نمایند.

(۸) اصطلاح «مظنون» و «متهم» در برگیرندهٔ تعریف وکیل مدافع شان نیز می‌باشد.

**مدت گرفتاری مؤقت**

**مادهٔ ششم:**

(۱) مدت توقیف مؤقت بعد از گرفتاری در جریان تحقیق طبق حکم مادهٔ (۳٦) تعیین می‌گردد.

(۲) محکمهٔ ابتدائیه می‌تواند در جریان محاکمه مدت توقیف را برای دو ماه اضافی تمدید نماید.

محکمهٔ مرافعه می‌تواند در جریان محاکمه این مدت را برای دو ماه دیگر تمدید نماید.

ستره محکمه در جریان محاکمه صلاحیت دارد این مدت را برای پنج ماه دیگر تمدید نماید.

(۳) هرگاه میعاد تمدید مندرج فقرهٔ (۲) این ماده در جریان محاکمه منقضی شود، شخص توقیف شده از حبس رها می‌گردد.

**قانونیت اسناد و دلایل**

**مادهٔ هفتم:**

دلایل و شواهدی‌که بدون رعایت احکام قانون جمع آوری شده باشد، فاقد اعتبار بوده، محکمه نمی‌تواند مستند به آن حکم نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فیصله نهائی**

**مادۀ هشتم:**

(۱) فیصلۀ محکمۀ ابتدائیه زمانی نهائی و واجب التنفیذ محسوب می‌شود که در مدت تعیین شده به مرافعه خواهی آن اقدام نشده باشد.

(۲) فیصلۀ محکمۀ مرافعه زمانی نهائی و واجب التنفیذ محسوب می‌گردد که در مدت تعیین شده در خواست فرجام خواهی به ستره محکمه تسلیم داده نشده باشد.

(۳) فیصله‌های ستره محکمه قطعی و واجب التنفیذ می‌باشد.

(٤) څارنوال ابتدائیه فیصله‌های نهائی را در معرض تطبیق قرار می‌دهد، به این منظور محکمه مرافعه و ستره محکمه فیصله اتخاذ شده را با اسناد و اشیای ضبط شده دوباره به څارنوالی ابتدائیه ارسال می‌نماید.

**تزویر**

**مادۀ نهم:**

(۱) در تمام مراحل تحقیق یا محاکمه مظنون، متهم یا مجنی علیه می‌توانند علیه سند تزویریی‌که در میان دلایل اثباتیه گنجانیده شده است، اعتراض نمایند.

(۲) اعتراض نامه در مراحل تحقیق یا محاکمه به څارنوال و یا قاضی پی‌در پی ارائه می‌گردد.

(۳) در صورتی‌که اعتراض نامه حین تحقیق به څارنوال مربوط سپرده شده باشد څارنوال مکلف است که اعتراض نامۀ تزویر را به محکمۀ ذیصلاح ارائه نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٤) هرگاه څارنوال و یا محکمه اعتراض نامهٔ مبنی بر تزویر سند را وارد بداند، اجراآت به تعویق انداخته می‌شود، در این صورت تحقیق مبنی بر تزویر توسط عین څارنوال یا څارنوال با صلاحیت دیگر آغاز می‌گردد.

(٥) در صورتی‌که قضیهٔ تزویر از طرف محکمهٔ ذیصلاح رسیدگی و حکم نهائی در زمینه صادر گردیده باشد، جریان تحقیق و محاکمه مجدداً آغاز می‌گردد.

(٦) در صورتی‌که تزویر ادعا شده ثابت نگردد، اسناد بعد از فیصله نهائی محکمه به څارنوالی مربوط مسترد می‌گردد تا در حدود صلاحیت خویش در مورد تصمیم اتخاذ نماید.

(٧) هرگاه ادعای مظنون یا متهم، توسط څارنوا ل و محکمه رد گردد، در این صورت ادعا کننده طبق احکام قانون مجازات می‌گردد.

**امتناع څارنوال**

**مادهٔ دهم:**

(١) څارنوال ابتدائیه در صورت موجودیت دلایل مؤجه می‌تواند از څارنوال مافوق تقاضا نماید تا وی را از اجرای تحقیق در قضیه مشخص معذور بدارد.

(٢) مظنون حق دارد با ارائه دلایل مؤجه که در فقرهٔ اول این ماده ذکر شده، علیه څارنوال ابتدائیه که تحقیق را به عهده دارد، اعتراض و رد وی را از څارنوال مافوق تقاضا نماید.

(٣) در صورتی‌که دلایل ارائه شدهٔ څارنوال ابتدائیه یا مظنون مورد تائید څارنوال مافوق قرار گیرد، څارنوال دیگری را عوض وی توظیف نموده و یا خود وی به شکایت متهم رسیدگی می‌نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**امتناع قاضی**

**مادهٔ یازدهم:**

(۱) قاضی نمی‌تواند تحت شرائط ذیل به قضیه رسیدگی نماید:

۱- در صورتی‌که جرم ارتکاب شده علیه قاضی و یا خویشاوندان وی صورت گرفته باشد.

۲- در صورتی‌که قاضی به صفت مامور ضبط قضائی، څارنوال، شاهد و یا اهل خبره در آن قضیه دخالت کرده باشد.

۳- در صورتی‌که قاضی به صفت وکیل مدافع شخص متهم ایفای وظیفه نموده باشد.

(۲) در صورت موجودیت شرائط مندرج فقرهٔ (۱) این ماده قاضی مکلف است موضوع امتناع خود را به اطلاع رئیس محکمهٔ مرافعه برساند.

(۳) هرگاه شرائط مندرج فقرهٔ (۱) این ماده متوجهٔ تمام اعضای محکمه باشد، موضوع امتناع آن‌ها به سمع رئیس محکمهٔ مرافعه رسانیده می-شود.

(٤) هرگاه شرائط مندرج فقرهٔ (۱) این ماده صرف متوجه رئیس محکمه باشد، وی مکلف است که موضوع امتناع را به سمع رئیس محکمه فوقانی برساند.

(٥) رئیس محکمهٔ فوقانی درخواست امتناع قاضی را بعد از علم آوری قبول یا رد می‌نماید. تصمیم رئیس محکمه در این مورد نهائی می‌باشد.

(٦) هرگاه رئیس محکمهٔ فوقانی درخواست امتناع قاضی یا رئیس محکمه را بپذیرد، در این صورت قاضی دیگری را غرض رسیدگی قضیه تعیین و توظیف می‌نماید.

(۷) اجراآت دوسیه تا زمانی‌که حکم نهائی رئیس محکمهٔ فوقانی صادر گردد به تعویق انداخته می‌شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سلب صلاحیت قضائی**

**مادۀ دوازدهم:**

(۱) متهم یا څارنوال حق دارد، درخواست سلب صلاحیت قاضی یا رئیس محکمه را به اساس یکی از دلایل مندرج فقرۀ (۱) مادۀ یازدهم ارائه نماید. درخواست به رئیس محکمۀ مندرج فقره های (۲،۳و ٤) مادۀ یازدهم ارائه می گردد. رئیس محکمه می تواند درخواست را رد یا قبول نماید.

(۲) در صورت اتخاذ تصمیم در مورد سلب صلاحیت، رئیس محکمۀ مربوط عوض قاضی یا رئیس که از وی سلب صلاحیت به عمل آمده قاضی دیگری را تعیین و توظیف می‌دارد. تصمیم رئیس محکمه قابل اعتراض نمی‌باشد در این حالت اجراآت جزائی تا زمان تصمیم نهائی رئیس محکمه به تعویق انداخته می‌شود.

**تعریف جرم مشهود**

**مادۀ سیزدهم:**

(۱) جرم در زمان ارتکاب آن مشهود پنداشته می‌شود.

(۲) مرتکب جرم مشهود شخصی است که حین ارتکاب جرم طور بالفعل گرفتار شود.

(۳) در مواردی که مرتکب بعد از ارتکاب جرم فرار نماید و بلافاصله توسط پولیس، شخص متضرر و یا اشخاص دیگر تحت تعقیب قرار گیرد، این حالت نیز مشهود تلقی می‌گردد.

**تفریق و یکجا سازی قضایا**

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) څآرنوال ابتدائیه یا محکمه می‌تواند در حالات ذیل قضایای مختلف را با هم یکجا سازد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- در صورتی‌که مظنون یا متهم مرتکب جرایم متعدد شده باشد.

۲- در صورتی‌که تحقیقات یا محاکمه‌های مختلف در رابطه با مرتکبین عین جرم صورت گرفته باشد.

۳- در صورتی‌که عین شواهد به جرایم مختلف ارتباط داشته باشد.

(۲) څارنوال ابتدائیه و محکمه می‌تواند در حالات ذیل قضایای مختلف را از هم تفریق و تفکیک نماید:

۱- در صورتی‌که در رسیدگی قضایا تسریع به عمل آید.

۲- در حالی‌که ارتکاب جرم توسط بزرگسالان و اطفال صورت گرفته باشد.

**ابطال اجراآت جزائی و عواقب آن**

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) اجراآت جزائی در حالات ذیل باطل شمرده می‌شود حتی بدون ارایۀ درخواست به قاضی:

۱- شخصی‌که به حیث څارنوال یا قاضی ایفای وظیفه می‌نماید، فاقد اهلیت قانونی باشد.

۲- در صورتی‌که اجراآت در غیاب څارنوال صورت گرفته باشد و حضور څارنوال در اجراآت طبق قانون حتمی باشد.

**عدم اعتبار اجراآت و عواقب آن**

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) هرگونه تخلفات اجرائی متفاوت از احکام مندرج مادۀ پانزدهم در صورتی فاقد اعتبار شناخته می‌شود که اشخاص ذیدخل به آن اعتراض نمایند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) هرگاه اعتراض حین تحقیق و یا در جریان محاکمه مطرح گردد، محکمه ذیصلاح می‌تواند در مورد تجدید نظر اجراآت، تصمیم اتخاذ نماید.
(۳) اعتراض در هر قضیه به محکمهٔ مرافعه و یا ستره محکمه تقدیم شده می‌تواند.
(٤) محکمه مرافعه و یا ستره محکمه بی اعتبار بودن اجراآت را زمانی اعلام می‌کند که متیقن گردد، تخلفات اجرائی باعث انحراف در وقت تصمیم گیری دوسیه گردیده است.

**مقررات عمومی برای آگاهی**

**مادهٔ هفدهم:**

(۱) مکتوب های جلب و آگاهی توسط مامور ضبط قضائی ترتیب گردیده، به مراجع مربوط ابلاغ می‌گردد و از نتیجه اجراآت به ادارهٔ تقاضا کننده گزارش داده می‌شود.
(۲) مکتوب‌های جلب و آگاهی باید به آدرس محل سکونت شخص مورد نظر، راساً برای خودش یا اقارب بالغ وی یا شخصی که در عین خانه زندگی می‌کند، داده شود. در صورتی‌که تحویلی مکتوب‌های جلب و آگاهی ممکن نباشد، مکتوب‌های جلب وآگاهی به آدرس مذکور تحویل داده می‌شود.
(۳) هرگاه شخص تحت توقیف قرار داشته باشد، مکتوب جلب و آگاهی از طریق آمر محبس به وی سپرده می‌شود.
(٤) هرگاه دریافت آدرس مسکونی شخص موردنظرامکان پذیر نباشد، مامور ضبط قضائی مکلف است تحقیقات دقیق را غرض کشف محل سکونت و یا محل کار شخص مورد نظر انجام دهد درصورت عدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجهٔ این گونه تحقیقات، مامور ضبط قضائی مکلف است مکاتیب را به مرجع اداری که آخرین محل سکونت شخص مورد نظر تلقی می‌گردد، تحویل نماید.

## فصل دوم
## احکام عمومی برای مظنون ومتهم

**وکیل مدافع**

**مادهٔ هجدهم:**

(۱) مساعدت های حقوقی برای مظنون و متهم توسط اشخاص مسلکی صورت می‌گیرد.

(۲) اسم وشهرت وکلای قانونی که دارای دیپلوم **پوهنځی** شرعیات یا حقوق باشند ضمن لست جداگانه در وزارت عدلیه تهیه می‌گردد.

(۳) مظنون و متهم در همه حالات توسط وکیل مدافع منتخب شان مساعدت می‌شوند.

**مساعدت حقوقی**

**مادهٔ نزدهم:**

(۱) هرگاه مظنون و یا متهم توانائی مالی استخدام وکیل مدافع را نداشته باشد، برای آنها وکیل مدافع رایگان تحت شرایط ذیل تعیین می‌گردد:

۱- **څا**رنوال تحقیق یا محکمهٔ مربوط به اساس درخواست مظنون یا متهم، وکیل مدافع را از میان لست وکلای قانونی برای شخص بی بضاعت تعیین می‌نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- شخصی‌که وکیل مدافع رایگان برای وی تعیین می‌گردد، در صورت عدم رضایت حق دارد از قبول وکیل مدافع منتخبه اباء ورزیده و شخصاً از خود دفاع نماید.

۳- حق الزحمهٔ وکیل مدافع منتخبه از بودجهٔ دولت تمویل و اندازهٔ آن توسط سند تقنینی مربوط تعیین می‌گردد.

**ترجمان**

**مادهٔ بیستم:**

در صورتی‌که مظنون یا متهم به زبان مورد استفاده در تحقیقات و یا محاکمه آشنائی نداشته یا کر یا گنگ و یا کر و گنگ باشد، برای شان ترجمان تعیین می‌گردد تا آن‌ها از جرم و ادعائی‌که بالای شان صورت گرفته آگاهی حاصل نمایند و همچنان در جریان استنطاق و مقابله به آن‌ها کمک نماید.

## فصل سوم

## راپور جرایم ونقش څارنوال

**راپور جرایم**

**مادهٔ بیست و یکم:**

(۱) مؤظفین پولیس مکلف اند در صورت اطلاع از وقوع هر نوع جرم حداکثر در مدت (۲٤) ساعت به څارنوال ابتدائیه راپور دهند.

(۲) کارکنان دولتی مکلف اند از ارتکاب هر نوع جرم که حین اجرای وظیفه مطلع می‌شوند، به څارنوال ابتدائیه راپور دهند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) اشخاص عادی مکلف اند صرف از وقوع جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی کشور برای مامورین ضبط قضائی یا څارنوال ابتدائیه اطلاع دهند.

**تحریک دعوی جزائی**

**مادۀ بیست و دوم:**

(۱) څارنوال ابتدائیه مکلف است در صورت آگاهی یا دریافت راپور از وقوع جرایم در حوزۀ تحت صلاحیت خویش به تحریک دعوی جزائی جهت تعقیب تمام جرایم آغاز نماید، مگر این که قانون صراحتاً طور دیگری حکم نموده باشد.

(۲) ترک و متوقف ساختن دعوی جزائی و تعطیل سیر آن از طرف څارنوال جواز ندارد، مگر در احوالی‌که قانون تصریح کرده باشد.

**تحقیقات**

**مادۀ بیست و سوم:**

